پښتنو ته ادبي سوغات

# د خوشحال خان خټک مَرغَلرِي

قندهار ۱۳۱۷

عبدالحي حبيبي

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خوشحال خان خټك كليات

دا د پښتو لُومړی ادبي اثر، دَ پښتون ټولواک اعلحضرت محمد ظاهر شاه په عصر کښ په امر دَ ع، ش سردار محمد داود خان د قندهار ملکي او لښکري مشر، په هغو مصارفو چه دَ دارلحکومګي په واک کښ دِي، د قندهار په مطبعه کښ په تصحيح او تحشيه او احتمام دَ عبدالحی حبيبي مدير دَ طلوُع افغان چاپ او خپور شوُ.

دا کتاب له څلوروُ قلمي او ټولو چاپي نسخو څخه په ډير زيار نقل شوي، او تر پخوانيوُ چاپي نسخو خورا بشپړ او ډېر دي.

قندهار. غويی ۱۳۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له ويونکو سره يَو څو خبري

د خوشحال خان خټك مرغلری، يعني دَ پښتو دَ يوه نامتو او توريالي مشر ويناوي او اشعار لکه دَ پښتو ژبي نور خواږه او گرانبها ادبي آثار چه ورک او په هر گوټ کښ چه پاته دي دغه کتاب هم ورک او دَ پښتنو څخه ليري پاته وُ.

که څه هم په پښتونخوا کښ هري خوا ته د دې مرغلَروُ لاړونه يعني دَ خوشحال خان قلمي کلياتونه او دېوانونه ډېر وه مگر بشپړ او صحيح دَ پښتنو له خوا نه وه چاپ او خپاره شوِي.

دَ پښتو دَ اوسني نسل ځلمو او دَ ملي ژبي پوهانو او قدر پېژندونکو چه دا دَ ژبي گرانبها ادبي اثر ور معلوم وُ، هر کله بې زړه غوښته چه نشر او خپور شي! او ما دا ډېر کلونه دغه ارمان په زړه کښ درلود.

دَ ۱۳۱٦ په دوبي کښ يوه ورځ دَ دغه اثر ذکر په قندهار کښ د دې ځاي د ځلمي او پښتون مشر والاحضرت سردار محمد داود خان په مخ کښ وشو، ځکه چه دُوي دَ پښتو ژبي دَ ژوندُون او خپورتيا سره دَ زړه مينه لَريي، نو ئې امر وفرمايه ، چه دغه کتاب دِ چاپ شِي، او مصارف دَ چاپ ئې هم له خپلي خوا ورته منظور کړه.

ما چه په کلو کلو دغه ارمان په زړه کښ درلود، ژر مي دَ دغه کتاب ډېر قلمي او چاپي نسخې له هره خوا سره را ټولي کړې (چه تفصيل بې په لمړيو مخو کښ دَ کتاب وکړم) او تقريباً يو کال مي د شپې او ورځي زيار وکيښ، چه ټوله نسخې مي سره مقابله کړې، او يو جامع او بشپړ اثر مي پښتنو ته وړاندي کي، که څه هم دغه کتاب به له اويا کلو څخه څو واره په هند کښ چاپ شوي دي، مگر يو بشپړ او صحيح نه وُ، دغه نسخه چه اوس پښتنو ته وړاندي کيږي، حتی المقدور بشپړه ده او يو بيت هم له قلمي نسخو څخه ندی پاته شوي، چه دلته نه وي راغلي.

په تصحيح کښ ئی ما هم ډير زيار وکښل، رديفونه مې برابر کړل، املا مي حتی المقدور سمه کړه او ځني گران لغات مي حل کړل، هغه چه زه نه په پوهيدم هغه مي پښتنو ورونو ته پريښووه. دا دي چه زه لمړی خوشحال خان په تاسي پيژنم، او د ده د ادب مقام در ښيم وروسته نو د ده مرغلري در وړاندي کوم، که څه غلطی را څخه پيښه شي، ښاغلي پښتانه چه بخښنه او ښندنه د دوی د پښتونوالي پلارنی مېراث دي، ما به وبخښې، د پښتونوالی په روڼه دنيا کښ ما ته دغه خوښي او افتخار بس دي، چه د پښتني لُمړی ادبي اثر پښتنو ته وړاندي کوم، او د پښتو او پښتونخوا په ادب کښ، په يوه کوچني خدمتگوټي وياړم، او له دې ځايه د پښتو د پلار خوشحال خان ږغ په هغه شپېلی کښ پوکم، چه يو وخت ئې پښتانه په خواږه ږغ د مينې په نڅا او اتڼ کښېوته، او د لويو غرونو په درو کښ به ئې د خپلي مينې د عشق سندري ويلي، او د خپلي پښتونوالي انگروزه بې پر جهان پرې يسته!

هيله لرم چه ښاغلي پښتانه دغه زما زيار او مښود، د نمنځني په سترگو ويني، او د پښتنوالي په دود ئې ومني ولي چه ما د دغه ادبي اثر په نشر کښ ډيري شپې وهلي او ورځي مي تيري کړي دي.

قندهار، دَ خواجه کلی، د کب شلمه شپه ۱۳۱٦
عبدالحی حبيبي د طلوع افغان مدير او ليکونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هغه قلمي او چاپي نسخې چه دا کتاب ځني بشپړ شوي دئ:

د دې ادبي اثر د بشپړتيا او تکميل دپاره موږ هري خوا ته پلټنه او پوښتنه وکړه، او چاپي او قلمي نسخې مو را ټولي کړې، په چاپي نسخو کښې خو اساس او اصل هغه نسخه ده، چه په ٦٠٧ مخ کښې تقريباً اويا کاله دمخه په ١٨٧٠ عيسوي کال له ١٢٨٧ هجري د ډاکټربليو انگليس مستشرق له خوا د ده په تصحيح په اهتمام د سلطان بخش دا روغه د پېښور په جېلخانه کښې د هوې قلمي نسخې له رويه چه د افضل خان خټك په تصرف کښې وه، طبع او نشر شوې ده.

تر دغه وروسته چه ټولي نوري نسخې په پيښور کښې د دغه له رويه چاپ شوي دي، هر چا له ځانه لاس پکښې وهلې او تقريباً اصل کتاب ئې ورک کړي دي، موږ دغه نسخه اساس وگرزوله، او جناب امين الله خان زمريالي د کابل د پښتو ټولنې عضو چه دغه نسخه ئې درلوده، موږ ته ئې راکړه،

دغه نسخه موږ د څلورو نورو قلمي او خوشخطو نسخو سره مقابله کړه، زوائد مو ټوله وليکل او هر ځاي مو زائد بيت ته چه په چاپي نسخه کښې نه وُ، په دې علامه (×) اشاره وکړه، او زياتي بدلي او رباعيات مو بيل بيل د کتاب په حاشيه کښې وښوول، اختلاف د نسخو مو حتى المقدور په حواشي کښې وليکه د قلمي نسخو تفصيل دا دي:

(١) مهمه نسخه چه په تقريباً ١٥٠٠ مخ کې پر اعلا زاړه کاغذ خورا خوشخط په ١١٤٢ هجري کال په اتلسم د جمادي الثاني د شيخ محمد اعظم نومسلم په خط په امر د اسد خان ليکلې شوې او بيا ملا عبدالحليم نامي حاشيه پر ليکلې او مشکلات ئې حل گړي دي.

دا نسخه په ترتيب کښې له نورو سره سمه ده، د ليکلو ځاي ئې ندي معلوم، په املا کښې هم له نورو قلمي نسخو څخه فرق نلري، د ځنو لغاتو په حل کښې موږ له دغي نسخې څخه کومك اخستي، او حواله مو ورته کړې ده، دا نسخه څلوېښت کاله پسله وفاته د خان ليکلې شوې ده.

(٢) دوهمه قلمي نسخه په تصرف د ع،ج، ا، ا نښبان محمد گل خان وزير صاحب داخله ده چه ډېره خوشخطه او صحت ته نيژدې ده، دا نسخه په قندهار کښې ليکلې شوې ده، اما د ليکلو کال او ليکونکي ئې ندئ معلوم. ډېر زواېد هم لري، په خط او املا او ترتيب کښې له نورو قلمي نسخو فرق نلري.

(٣) دريمه نسخه په تصرف د پښتانه فاضل جناب مولوي ابو الوفاء صاحب قندهاري ده، چه موږ ته ئې له حيدر آباد دکن را ولېږله، دانسخه که څه هم په خط کښې تر نورو پاته ده، اما ډير زوايد لري او اکثر بيتونه ئې په نوروُ کښې نشته، او بشپړ ښکاره کيږي، د دې کتاب قطعات په غره د شعبان ١١٧٠ کال ، او رباعيات ئې په ٢٧ د ذيقعده ١١٧١ کال او غزليات ئې په ٧ د ذيقعده ١١٧١ کال او قصايد ئې په ٢٤ د شعبان ١١٧٠ هجري کال ليکل شوي دئ، د کتاب ليکوني ندئ معلوم، مگر د شاهجهان پور په ښار کښې ليکل شوي دئ، او دا ښکاره کيږي چه کاتب ئې په پښتو نه پوهېدي، محض ئې نقل اخېستي دئ، ولي چه ډېر ځاېونه سهو او خطا لري.

(٤) څلورمه نسخه په تصرف د جناب حاجي احمد على خان هوتك د قندهار وه، چه خورا خوشخطه او صحيح وه، ترتيب او ليك او املا ئې لکه نوري قلمي نسخې هغسي دي، فرق نه سره لري د کتاب د ليکلو کال او کاتب ئې ندئ معلوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تشکر

دلته به بې وره نه وئ، چه موږ له دغو محترمو پښتنو څخه چه خپلې قلمي نسخې ئې د نقل او مقابلې او سمون دپاره موږ ته را لیږلي دي، تشکر وکړو، او دا د دوي کومك په احیاء کښ د دې اثر، د پښتنوالي او پښتو غوښتو له پلوه د خوښۍ او تشکر په سترگه ووینو، چه د دې کتاب په نشر کښ دوئ لو برخه لري.

# د کتاب ټوکونه

د خوشحال خان کلیات په اصلو قلمي نسخو کښ هم څلور ټوکه دئ، موږ هم پر هغه اساس سم چاپ کي لکه له فهرسته څخه چه څرگندېږي، لمړی ټوک ئې غزلیات دي، دوهم ټوک قصائد دي، دریم ټوک رباعیات او څلورم ټوک قطعات او متفرقات دي.

# تعداد او زوائد

په دغه کتاب کښ د ډکټر ډبلیو بلیو انگلیس تر چاپي نسخه ۸٤ بدلي، او ۲۰۷ رباعیات او ۵ قصائد او مجموعاً ټوله ۱٤۰۰ بیتونه تر چاپي نسخه زیات له قلمي نسخو څخه را نقل شوي دئ. له دغه جهته نو موږ دا وېلاي شو، چه دا نسخه بشپړه ده، او تر اوسه د خان کلام په دغه بشپړتیا چا ندئ نشر کړي او نوري ټوله نسخې علاوه پر غلطی او اړولو د اصلي الفاظو لږ او کمي هم دي. او دغه نسخه له هره حیثه بشپړه گڼله کیږي.

# غلطنامه

ځني سهوي او غلطی چه په مطبع کښ پېښې شوي دئ، په پاي کښ د کتاب ئې موږ غلطنامه هم ترتیب کړې ده، پښتانه به لمړی کتاب د غلطنامې له رویه سم کړي، بیا به ئې نو ولولي.

# ځني گران کلمات

د کتاب ځني گران لغات او کلمات موږ حتی المقدور حل کړه، او حاشیه مو پر ولیکله، د ع،ج، وزیر صاحب داخله سیند او د جناب راحت الله زاخیلي پښتو لغات، او د پښتو مرکې د قاموس یوه برخه چه زموږ څخه شته، او زموږ خپل له لغوي پښتو یاداشتونو څخه، خلاصه په هره توگه چه کوم لغت حل کیدي، ترجمه مو ورته وکښله.

سره د دغه هم ځني بیتونه او ځني کلمات دغسي حل طلب پاته شوه، چه بیتو ته مو (ح) لیکلې ده او په پاي کښ د کتاب مو یو د نادره جدول هم زیاتي کي، او هغه لغت چه د کتاب په ټولو مخو کښ راغلي دي موږ ئې مخ وښوويي او د حل

(c) ketabton.com: The Digital Library



طلبو لغاتو ترجمه مو پښتنو ته پرېښووه، ګُندي پښتانه داابيات او لغات حل کړي، او په دوهمه طبع کښ بيا ترجمه سره ولیکي. هيله لرم، چه پښتانه له دې قصوره ما معاف کاندي.

## د کتاب املا او رسم الخط

تر اوسه چه ما د خوشحال خان ياد دده د کورنى د ادباوُ قلمي دېوانونه ليدلي، ټوله په متحد رسم الخط او املا ليکلې شوي دي، داسي ښکاره کيږي، چه په هغه وخت کښ دغه املا مروجه وه، دوي د پښتو مخصوص حروف داسي ليکلي دئ:

ټ = طء مثلاً ټول = طول

څ = ثح څوک = چوک

ځ = ءح ځما = حما

ډ = ذٔ ډېر = ذٔېر

ړ = رٔ زړه = زرٔه

ڼ = نٔ رڼا = رنٔا

علاوه پر دې د (ښ) او (ږ) حروف لکه پارسي (ش) او (ژ) ليکي او د کاف او ګاف فرق هم نه کوي، د خوشحال خان ټوله قلمي دواوين او د عبدالقادر خان او علي خان او کاظم خان او اشرف خان هجري، چه ټوله له خان پښته دي، ديوانونه ئې ټوله په دغه املا ليکل شوي دي او رسم الخط د ټولو هم پارسي نستعليق دئ نه عربی، علاوه پر دغه د کتاب د املا په خصوص دا لاندينې ملاحظات وګوري:

(۱) ئې چه ضمير د غايب دئ، په همزه بې ټکو ليکل شوې او (ی) يعني هستي چه له افعال ناقصه څخه ده مخاطب مخصوص دي په ټکو بې همزه ليکل شوي دي، مګر په ځنو ځايو کښ د مطبعې خطا په سبب د دغه کلمې سره ګډ شوي دي. ځکه چه له موقع څخه ښکاره کيږي، نو به ګُندي ويونکو ته اشکال نه پېښوي، په نورو ځايو کښ د دې دوو کلمو د شکل تميز شوې دئ (ئې، يی).

(۲) مفغن کلمات ټوله په پښتو املا او مفغنو حروفو ليکل شوې دئ، لکه کميس، کيسه، وخت او نور، چه په پيړيو پيړيو پښتنو دغه کلمات پخپله ژبه کښ را اړولي دي، او په قلمي نسخو کښ هم دغسي ليك دي.

(۳) کلمه د کښ د پښتو له ظرفی کلماتو څخه ده. په ټولو قلمي نسخو کښ په ياء (کښې) ليکلې ده، مګر اوس بی ياء مروجه ده، نو په هغه ځاي کښ چه قافيه نه ورانېده، موږ کښ بې ياء وليکله، او د ياء په قافيه کښ مو مجبوراً کښې د ياء سره وليکل، چه ترتيب ئی وران نشي.

(٤) ځني کلمات په اختلاف د محاورو لږ څه تغيير کوي، يا ئې املا ډېر فرق نه کوي، نو ئې املا پر يوه ډول نده راغلې. مثلاً ګوته، ګته، څو، سو، جنځي، چنجي، ورځه، وروځه، رويبار، رېبار، توکي، توګي، ځکه چه دواړه محاورې ئې صحيحي دي، نو زما په عقيده دا اختلاف د املا ئې هم پروا نلري.

(٥) کلمه د خپور کله کله پر جلا محاوره برابر (خور) ليکلی او جمع ئی خواره راغلې ده چه له موقعه ښکاره کيږي، ځکه چه خور دوې معناوي لري او مورد د اشتباه لوېږي، نو موږ ئې املا خپور غوره کړه. که کوم ځاي خور ليکل شوې وي، تصحيح دي وشي. دغسي هم سپور په معنا د سوار کله کله سهواً سور ليکلې ده ځکه چه د سپور کلمه غوره ده، نو که

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتانه تصحيح وکړي، ښه به وئ! ولي چه سپور وضعي، او سور تقريباً د مفغن شکل لري. دغسي هم کلمه د زر يعني زور که څه هم د خټکو محاوره ده مگر په څنو ځايو کښ چه اشتباه پېښېده، موږ ئې د قندهار محاوره ژر وليکله چه محل د اشتباه نه وُ، هلته زر هم راغلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خوشحال خان خټك

خوشحال خان خټك څوك و؟

خوشحال خان زوی د شهباز خان زوی د یحیی خان زوی د ملك اکوړي زوی د درویش محمد (مشهور په چنجو) زوی د تمن (اتمان) زوی د حسن زوی د شیخ علی زوی د عطا (هوتي) زوی د پټي زوی د اتو زوی د برګوېټ زوی د تري زوی د تورمان زوی د لقمان (مشهور په خټك) زوی د برهان زوی د ککي زوی د کرلاڼ دی، چي د خټکو په روایت د کرلاڼ (کرړان) پلار هوني نومېدی، او هوني د سړبن څخه بولي، ځیني مؤرخین یې د عبدالله اورمړ زوی ګڼي[١].

خوشحال خان په کرلانو کي یو صحیح النسب پښتون دی، چي د پلار او نیکه څخه د خټکو مشر او خان و، د ده پنځم نیکه ملك چنجو د مغولي اکبر پاچا په عصر کي (٩٦٣ _ ١٠١٤ هـ) په پښتنواله مشهور و، ملك اکوړی د ده زوی هم لکه پلار یو نومیالی پښتون و، چي د اکبر پاچا او د مغولو د امپراطورۍ له خوا د خپل قوم او د دغه ځای د پښتنو ملي مشر ګڼل کېدی، او د کابل د لاري ساتنه په ده اړه درلوده، ده سرای ودان کی، چي اکوړه یې هم بولي، تر ده وروسته یحیی خان او بیا یې لمسی شهبازخان د شاه جهان په عصر کي د پښتنو مشهور سردار او نامتو خان و[٢] چي د مغولو تر امپراطورۍ لاندي یو امیر او د پښتنو مشر ګڼل کېدی.

تولد :-

د جهانګیر مغولي پاچا په عصر کي (١٠١٤ _ ١٠٣٧ هـ) چي شهباز خان د (٢٢) کالو و، د ده په کور په اکوړه کي په ربیع الثاني د ١٠٢٢ هـ کال سم له ١٦١٣ ع کال خوشحال خان وزېږېدی، چي وروسته نو دا سړی یو نامتو پښتون او غیور سردار سو، او په دنیا کي د پښتنوالي او د پښتو د ادب یې یو لوړ نوم پرېښو.

ملي مشر خوشحال خان :-

د خوشحال خان پلار شهباز خان خټك په ١٠٥٠ هـ کال چي عمر یې پنځوس کاله و په یوه جنګ کي د یوسفزو ټپي او په پنجشنبې اول د شوال وفات سو [٣] د پلار تر مرګ وروسته د خوشحال خان درې نور کوچني وروڼه وو، جمیل بېګ، شمشېرخان، میرباز خان، مګر دی د مشرتوب له پلوه د قوم په خانۍ او سردارۍ وټاکل سو، او ټوله اولس په مشرتوب ومانه، شاه جهان مغولي پاچا هم دی د پښتنو خان کی، او د مشرتوب فرمان دده په نامه له ډهلي څخه صادر سو[٤]، شاه جهان چي د خوشحال خان قدر او احترام په ښه ډول کاوه، او په مغولي دربار کي یې ډېر نفوذ او اقتدار درلود[٥]، د اجمیر په جنګ کي چي د تاراګډهـ کوټ هیڅ چا نسوای فتح کولای، توریالي خوشحال خان دا کوټ مات کړ، او په لاهور کي د شاه جهان له حضوره څلور لکه روپۍ انعام ورکړه سو، او د دوه نیم لکو روپو پټی وروبخښل سو[٦].

خوشحال خان که څه هم د مغولي دربار تر اثر لاندي و، او د مغولي پاچهانو په اطاعت یې ځان مکلف ګاڼه مګر ده د خپل قوم په منځ کي بشپړ استقلال درلود او د مغول مریي توب یې هیڅکله د خپل قوم له پاره نه خوښاوه، شاه جهان هم فقط د پښتنو آرامي غنیمت ګڼلې او د دوی داخلي آزادي یې نه ور ورانول، خان پخپله وایي :-

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هـــــــــغه دور پاچا و
قدردان شاه جـــــــهان
د پلار ځای یې و ما راکړ
په اولس سوم حکــــــمران
که د توري که د ورکـــــړي
هیڅ مي پرې نښو ارمـــان
واړه دېرش زره خټك دي
درست زما دي په فرمان
درست خټك ځما په دور
نامــور ســــــــو په دوران

مګر تر شاه جهان وروسته چي د ده زوی اورنګزېب عالمګیر خپل پلار بندي کړ او نور ورونه یې یا مړه یا مغلوب کړه او په ۱۰۶۹ هـ کي پاچا سو، ده د خپل پلار طرفداران او درباریان ټوله ورکول، نو خوشحال خان خټك د پښتنو ملي مشر هم چي د شاه جهان له ملګرو او مقربانو څخه و، او اورنګزېب بېرېدی چي مبادا دی به د شاه جهان د خلاصۍ کوښښ وکي، نو یې وغوښته چي پښتانه مخذول کړي او خان هم ورك کړي.

پښتانه خو طبعاً آزادي غوښتونکي دي، او بل چاته سر نه کښته کوي، او پر خپل استقلال مین دي، خاص بیا خوشحال خان چي یو

صحیح پښتون سردار و، نو اورنګزېب خو دی په قوت سره نسوای ماتولای، له دغه جهته یې دروه او ټېټال ورسره وکړ، او خان یې په غوړه ژبه او احترام خپل دربار ته وغوښت، له بلي خوا یې د ده خپلوان

هم د خانۍ او منصب په ژمنه او رشوتو او روپو وغولول چي خان د پاچا دربار دهلي ته ورواستوي، خوشحال خان که څه هم ډېر پوه او تجربه

کار سړی و، مګر د پاچا په عهد او قول او د خپلوانو په اصرار وغولېدی، او یوازي پېښور ته ولاړی، د پېښور حاکم د مغولي دربار په نغوته دی بندي کړ، او تحت الحفظ یې دهلي ته واستاوه، خوشحال خان د روژې په منځ کي د ۱۰۷٤ کال دهلي ته ورسېدی او دا د پښتونخوا د بڼ خوشنوا بلبل، هلته دمغولو په بند کي تر څلورو کالو پوري بندي پاته سو، که څه هم د ده قوم په اتفاق د ده د خلاصۍ له پاره ودرېدل او غوښته یې چي مسلح حرکت په دې باب کي وکي، مګر خان دوی منع کړل، او له جنګه یې وګرځول.

خوشحال خان خپل د بند حوادث په یوه حبس نامه کي چي (۲۲۰) بیته ده ویلي دي او په خپل بند کي یې د وطن په بېلتون کي ډېري سوځوونکي نارې او غلبلې وهلي دي :

د هیواد یاران مي هر زمـــــان یادیږي
چي یې مخ په خـوب کي ووینم وویاړم

خوشحال خان څلور کاله په ډهلي او رنتهبور کي بندي و، وروسته نو ایله سو اما هره ورځ به دربار ته حاضرېدی او د وطن د تګ اجازت یې نه درلود په دغه حال کي داسي شکوه کوي (٤ د رجب ۱۰۷۷ هـ) :-

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـــــــره ورځ ورتله دربار ته
گــــــــوره دا څه مشقت دی
د بل حـــــکم پرې زندان سي
چي پر خپل حکم عادت دی
نه شیرین خواږه یاران سته
نه د چا ســـره صـــحبت دی

په پای کي خوشحال خان په اگره کي په ملگري د خپلو خپلوانو فرصت وموندی او خپل وطن ته راغی، دلته نو بیرته خپل قوم پر ده راټول سو، او په وارو وارو یې د مغلو سره سخت او لوی جنگونه وکړل، او د پښتنوالي هوډ یې تر سره کړی، او پښتانه یې د خپلي آزادۍ د ساتني له پاره د مغولو په مخ کي ولاړکړه، مگر د یوې خوا د هند د دربار رشوتونو او روپۍ او د بلي خوا د خان د زامنو او خپلوانو نفاق، دی و کار ته نه پرېښو:-

زه غلیم د اورنگزېب یم
ســــــر په غره په بیابان
زه په ننگ د پښـــتانه یم
دوی نیولي مــــــــغولان

مغولیه دربار ډېر مبالغ د پښتنو د بې اتفاقۍ او د خان د ناکامۍ له پاره وشیندل، او د خان زامن یې له ده څخه پر خلاف کړه، خوشحال خان غوښته چي دوی د پښتو ننگه او هوډ پر ځای کړي، مگر دوی د مغولي دربار په رشوتو او روپو له ده سره ملگري نه کوله، او پخپله عیاشي بخت وه، له دغه سببه نو خان پخپل کلام کي هر ځای د دوی له لاسه شکوه کوي:

زویو مې خوی د ختکو نور کړ
ځما په نقش یې پوري اور کـــړ
وخت د گــــــــټني د نام و ننگ و
بدو زامنو راڅخه خـــــــــپور کړ

خوشحال خان په دغه وخت کي چي دَ مغولو قوا دَ ده په بیرته نیو لو بخت وه هری خواته دَدُوی په مقابل کښ سفرونه اوتبلیغو نه کړي دي څوچه په پاکي اورنگزېب پخپله ناچارسو، د ده مقابلې ته راووت.

اورنگزېب پاچا زړه ډك په لاهــــــــــورراغی
گوره کانده به څوك وران څوك به ودان سي

خوشحال خان تقریباً دوه کاله د مغولوله امپرا طورۍگ سره دمړانی مقابله وکړه دوه کاله پخپله اورنگزېب داټك پر غاړه ورته پروت

و:-

اورنگزېب راته یوکال وسو چه پرو ت دی
په صورت حیران پرېشان په زړه افـــگار

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پای کي چي د مغولو پاچا ، په قوه د پښتنو له ما تولو څخه عاجز سو، نو يې د رپو په زور پښتانه سره بېل کړه ، او د خان زامن او خپلوان يې پرده راولاړ کړه :-

خزانې د هندوستان دي راخورې سوي
سره مهران دي ننو زي په كــــــوهسار

خوشحال خان هرځای له خپلوانو او زامنو څخه شکوه کوي، او د مغولو د کامیابۍ او بري ذریعه هم دوی ګڼي:-

په بل غــشي بل ټوپك ويشتلی نه يم
كه ويشتلی يم خوبيا پخپل ټوپك يم

د خوشحال خان سوانح ټوله په مشقت او تکلیف لړلي دي، د مغولی دربار د رقابت او مېرځۍ تاب په هغه وخت کي بي له دغسي مېړه او ټينګ پښتونه بل چانه درلود،دا ورنګزېب حکم د آمو له غاړي تربحر هنده پوري جاري و، او د مغولو د جهانګيرحرص او شهوت د پښتنو آزادي هم محو کوله، او نې غوښته چه دغه سپېڅلی او غيور قوم پخپلو غرو کي آزاد وي ، نو يې د خان و زو ی بهرام ته د خانۍ تطمیع ورکی، چه خان ګرفتار کړي.

خوشحال خان چي اوس نو سپين ږيری اوزوړ سوی و، خپل مشر زوی اشرفخان متخلص په هجری ئې د قوم خان کړ، مګربهرام خان اشرف خان ونيولی او په ۱۰۹۳ هـ کي يې د مغولو په لاس ورکړ، چي لس کاله په بيجاپورکي بندی و، او آخرهم هوري مړشو(۷).

دلته نو بهرام خان د مغولو د لښکرو په قوت و غوښته چي خپل پلار ونيسی، سره د دغه چي خان خورا زوړ و د (۷۷)کالو و مګر ګرفتارېږ نه کړ، او افریدي ته جنی ولاړ(۸) او انزوا يې غوره کړه، په ادبي ژوندون کي يې د کتاب او قلم په ملګري د خپل حيات اواخر تېرول.او د پښتنو په لويو غرو کي يې د ادب او علم په رڼا ژوندون کاوه :-

پسله بند دی دا عــــــــــزم
د خوشحال د خـــــاطر جزم
يا نيولی مخ مـــــــــــکې ته
يا مـــــــــــــغلو سره رزم
يا يو كـــــــــنج د غره نيولی
نمونځ، روژه د لـــوستو بزم

عالم خوشحال خان :-

خوشحال خان په کوچنيواله کي د خپلی زمانې مروج علوم ټوله ويلي وه، د ده له کلام ښه ښکاره کېږي، چي ده اسلامي علوم لکه فقه، حديث، تفيسر، او نور عقلي او فسقې علوم لکه منطق، حکمت، او ادبي علمونه او د فصاحت او بلاغت اصول لکه معاني، بيان، عروض قافيه او نور ټوله ويلي او عالم و. خوشحال خان سني مذهب مسلمان او حنفي و، دی وائي:-

د مذهب څښتن څلور دي پنځه ندي
حنفي سني مذهب د دين په كــار يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان په هرکار کي د اسلامي شريعت پيرو و، او د خرافاتو او مزخرفاتو چي په دين ګډشوي دي، مخالف و، او هر کله يي په دغه لارکي ښوونه او تبليغ کاوه:-

هر چي شرع فرمايي په هغه کارکړه
مه عمل کـــــــوه په رسم په دودونه

علاوه پردې خان په تصوف او روحاني خوا کي معلومات لري چي په نورو مخو کي بې تفصيل و سي.

شاعر او اديب خوشحال خان :-

پښتو شعر ترخان د مخه:-

هغه وخت چي خوشحال خان په دنيا کي د ادب، و پښتو ژبي ته يو مخلد او جاويد خدمت کاوه په دغه وخت کي د پښتو ژبي ادب ډېر محدود و، د پښتو د ادب د ژوندون تاريخ درې برخي لري.

(۱) لمړی دوره خوله ابتداء څخه بيا تر نهم هجري قرن پوري ده، چي په هند کي د مغلو او په ايران کي د صفوي کورنی پاچهي وه، تر دغه د مخه د پښتو اشعار ټوله طبيعي او غير مصنوعي وه، او هغه سندري او نارې وې چي د طبيعت تر اثر لاندي به پښتنو ويلې، د اتڼ نارې، لنډی، سپرې بدلي، او نور اقسام چي اوس هم سته، د دغه عصر ادبي آثار دي.

(۲) دوهمه دوره چي د مغولي بابر او د هند د پښتنو پاچهانو لودينا نوله آخره عصره څخه (۹۳۰هـ ) بيا تر سنه ( ۱۰۰۰ هـ) پوري رارسېږي، دغه اويا يا اتيا کاله د پښتو شعر نيم مصنوعي دی، يعني نه پوره پرزاړه حال طبيعي دی، او نه پوره د صنعت او عروض او قافيه تر اثر لاندي سوی دی، په دغه دوره کي ډېر ادباء او ليکوونکی شته، لکه.

اخوند درويزه د ننګرهار، شيخ ملي يوسف زی، اخوندقاسم، ملاالف هوتك،کريم داد، بازيد(پيرروشن) چي د دغوټولو آثار نه پوره عروضی اشعار دي او نه پوره طبعيی.

(۳) درېيمه دوره د پوره عروضي او مصنوعي اشعارو ده، چي پښتنو اديبانو خپل شعرپر عروض اوقافيه او فنو نو د بلا غت برابر ويلي دي ، او له دغه عصره څخه چي اوس درې نيم سوه کاله کيږی ، د پښتو اشعارو عروضي دوره شروع سوې ده ، په دغه دوره کي ترخوشحال خان د مخه ميرزاخان انصاري، او ارزاني او دولت، او واصل او قلندر تېر سوی دي، چي خان ئې پخپله ذکر کوي:-

د ميرزا دېوان مي ومانده په ګـــــوډي
مسخره مي ارزاني خوېشکي زمند کړ

خو شحال خان د ادبي مکتب مو سيس:-

تر خوشحال خان د مخه که څه هم څو تنو عروضي اشعار ويلي دي ، مګر هغه خدمت چي خان پښتو ته کړي او په دغه اندازه ډېر اشعار چي ده ويلي، او پرې ينبي دي، له نورو څخه نه دي ليدل شوي ، د ده اشعار تقريباً څلوېښت زره بيته ته رسېږي هغه انقلاب چي ده د پښتو ژبي شعر ته ورکړی دی، نو دی هر کله په حيث د مؤسس او پلار د پښتو شعر منل کيږي. تر ده وروسته چي ټول ادباء راغلي دي په فکر او ډول کي يې دی مقتداء دی، د ده له نسله څخه نور مقتدر

(c) ketabton.com: The Digital Library



اديبان هم پيدا سوي دي ، چي موږ بې پر خپل موقع ذکر وکړو.

شعرا وشاعري خو د انسان په خټه اخښلې سوېده، او ادب د انسانيت يو لوی او مهم جز دي، لکه ارسطو د يونان فيلسوف چي ادب د
فطرت محاکات او نقلي د انساني تأثراتو بولي، دغسي هم د پښتو
ادب ټوله پر دغه علمي کليه باندي بنا سوي دي خاص بيا د خوشحال خان ادبيات او آثار ټوله حاکي له هغو ذهني تاثراتو څخه دي چي
ماحول او محيط د ده په زړه کي کرله، دي د فطرت ترجان او د طبيعت ويونکې ژبه ده ، هر څه چي ويني، هغه په ښه ډول په وينا تصوير کولای سي!

خوشحال خان په هرراز شعرکي قوي لاس لري، عشقي، اجتماعي، فلسفي، وطني، اخلاقي او حماسي اشعار ډېر لري، د انساني فضائلو او دپښتنوالي د ښېګړو په بيان کي خو شحال خان يو پوره مو راليسټ (اخلاقي) او رياليسټ(حقيقي) اديب دي، په نقد او ادبي شجاعت کي هم ساري نلري، اما په دنيا کي دخياليت او ايډياليزم هم دومره جګ دی، چي لږ څه نور څوك پسي رسېدلای سي!

خوشحال خان موسس د هغه ادبي مکتب دی، چي وروسته ټولو د پښتو ويونکو او ژبه ورو خلقو د ده تقليد کړی دی، دی د خپل سبك استاد دی، نو ځکه موږ ده ته د پښتو پلار ويلای سو.

ما خوشحال چي په ښتو شعر بيان کړ
د پښـــــتو ژبه به اوس په آبوتاب سي

مواز نه اومقايسه :-

د پښتو شعر که څه هم په ډېرو شيانو او خواصو کي د پارسي او عربي اشعارو سره نژدېوالي او قرب لري، مګر بيا هم ځکه چي محيط او د قوم ذهني او روحي خواص پر ادب اثر لري،نو د خان په کلام کي د پښتنوالي ډېر مزايا ليدل کيږي، خان يو مبتکر پښتون دی، د ده فکر په دنيا کي د ادب يوازي مقلد نه دی، بلکي له ځانه هم مضمون را ايستلای سي، د دې خبري اثبات د ده دکلام مطالعه کوي، مګر دلته موږ لنډه اشاره ورته کوو.

د عشق دنيا او د ميني نړۍ يوه بېله دنيا ده ، د عاشق قلبی وار دات او د ده تأثرات پر بل چا نه قيا سېږي، مګر ملي خواص او اولسي مميزات هر کله په دغه دنيا کي هم او څارېږي، او لکه چي ادب د روحي تجلياتو هنداره ده، دغسي ټوله ملي ښېګړی پکښې بريښي!

پښتانه خو په فطرت کي ملي غرور او د روح لوړ تيا لري، پښتون هيڅکله او په هيڅ ډول داسي خضوع نه کوي، چي د ده ملي غرور ته دي صدمه و رسېږي.

شبلي نعماني په شعرا لعجم کي ليکي، چي نسبت و پارسي شعر ته په عربي شعر کي شاعر هرځای غزت د نفس او غرور ساتي ، مين که څه هم وخپل محبوب ته اړ وي او وصال ئي غواړي، مګر دي دګدا په څېر نه دی ، البته جانباز دی ، مګر غلام نه دی، ومصيبت ته د ميني تيار دی، مګرذليل ندی.

مثلاً يو عرب اديب خپلي ميني ته داسي خطاب کوي:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلاتحسبي اني تخشعت بعد كم
ولا انني بالمشي في القيد اخرق

يعني: دا گمان مکوه ، چي زه په تاپسي خاشع سوم، او نه په بند سره زه له يو نه پاتېږم[۹] بل ځای عاشق وخپلي مينې ته داسي وايي، چي ضمناً د خپل قوم مېړا نه او توريالیتوب ورښکاره کوي:-

اذا اسودجنح الليل فلتات ولتكن
خطاك خفافاً فان حراسنا اسد[۱۰]

يعني: چي ماښام د شپې وزر تور سي، نو راسه، مگر پلونه ورو ورو ږده چي زموږ ساتونکی زمری دی.

مگر په پارسي ادب کي عاشق د مينې په دنيا کي ځان دومره بايلي او بېخوده کيږي او د معشوق په مخ کي ځان دومره کښته کوي، چي ځان سپي هم بولي،

سحر آمدم بکویت بشـــــــــــکار رفته بودی
تو که سگ نبر ده بودی به چي کار رفته بودی

حافظ وائي:-

شنیده ام که سگان راقلا ده مي بندی
چرا بگردن حافـــــظ نمی نهی دسنی

د پښتو شعر که څه هم له يوې خوا شديداً د پارسي تر اثر لاندي سوی دی، او ادباو هرکله د غسي خيالات او افکار ذکر کړي دي، مگر بيا هم ځاي ځاي د پښتنو الي د روح لوړ تيا يې په کلام کي ښکاره کېږي، او پښتون عاشق هيڅکله ځان نه سپکوي، او خپل غرور او د نفس مناعت نه بايلي، په هغو ځايو کي چي د نورو په تقليد څه ويل سوي وي، دا سي اشعار بېل دي!

د خوشحال خان په کلام کي د پښتنوالي لوړ او ژوندي روح ښه ځلېږي، مثلاً په دې بيت کي د ځان لوړ تيا په څه ښه ژبه محبوب ته سي:-

مرگ لــــــره واړه د دهـــــــــلي لښـــــــکر راغلی
ته لا د خوشحال په مرگ ځان روغ نه گڼې ننگ کړې

سربازي او توريالي توب په عشق کي هم د ده سره ملگري دي، او کورټ د ذلت او تحقيرکار نه مني :-

يا به سره د خپل ورمېږ په وينو رنگ کړم
يا به کُښل کړم دغه ستا شونډي ملوکي

يا :

مگر تا څخه ســـــــــامان د سلطنت دی
چي په هوډ مي سپينه خوله غواړې ختکه

يا :

(c) ketabton.com: The Digital Library



په درست جهان به نه وي يو دما غوندي رسوا بل
ورځم توره وکښــــلې چې مـــــين واروم پر تا بل

د پښتنو عشق هم ښکاره او سپېڅلی دی، پټ پټانه نه لري، په نره توره مينه کوي، د عشق په دنيا کي خو مين او معشوق ډېر د راز ساتنه او پټول خوښ لري، او نه غواړي چي څوك په خبر سي.

زشوق ميروم و سوی تو ننگرم در بزم
برای آنکه فتد غير در گـــــمان دگر

عاشق له بيري د اغيارو او رقيبانو د خپل محبوب حال هم په ښکاره نه پوښتي :

بهر مجلس که جا سازم حديث نيکوان پرسم
که حرف آن مه نامهربان را درمـــيان پرسم

مگر د پښتنوالي په دنيا کي دا پټ پټانی نسته، د پښتون مينه او ميرڅي رڼه بده ده، خوشحال هم وايي :

زه خوشحال کمزوری نه يم چي به ډار کړم
په ښکاره نارې وهم چي خـــوله يې راکړه

د خوشحال د عشق ميثاق داسي ټينگ دی :

که يې سر درومي له تنه، نـــور په نه سي
د خوشحال چي د خپل يار سره ميثاق دی

خلاصه :-

د خوشحال خان په کلام کي هر ځای د پښتنوالي روح ښکاره دی، هغه چي په تقليد د بل چا ويلي سوي دي، بېل دی.

که مي حلق له تندي وچ سي په همت کي
پروا دار کله په حوض د کـــــــــوثر يم

نور د ده پښتني ادبي مزايا، د پښتنوالي او حماست په بيان کي وگورئ :

په دغه ډول د خوشحال خان کلام معنوي او مادي مزايا لري، خاص بيا په علومو د فصاحت او بلاغت پوه دی، اسرار د بيان ورمعلوم دي.

صنعت او ابتکار :

د خوشحال خان په کلام کي علاوه پر نورو ښېگڼو او معنوي خواوو ظاهري بدايع او صنايع هم سته، د شعر ټوله اقسام لکه غزل، قصيده، مثنوي، رباعي، قطعه ، تخميس، تسديس، ترجيع او نور لکه حماسه، رثاء لري. معشر او مربع اشعار د ده ابتکار دی، چي په پښتو کي يې ويلي دي.

شعري صنعتونه او بدايع يې په کلام کي خورا ډېر دي، د (۱۰) مخ لومړئ بدله او د (١٤) مخ (سترگي ستا) بدله د ذوالقافيتين مع الحاجب فن دی، په دغه ډول ذوقافيتين اشعار ډېر لري، په دې بيت کې صنعت د طباق راوستلی دی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه چي سپين د زهد ليري له ما گـــــرځي
چي د تورو ته نژدي سي سپين هم تور کا

ته ښادي کړه زه به غم کړم
تا خندا زده زمـــا ژړا زده

يو وصال د ښو يارانو بل هـــجران دی
چي خوشحال يې په خندا په ژړا کړی

په دغه آخرني بيت کي صنعت د لف و نشر مرتب هم سته، په تجنيس کي هم خان ښه لاس لري :
دوې دي توري سترگي لکه دوې تـــوري بلا
دوې دي توري ورځي لکه دوې توري تر ملا

هغه کار لکه دوه تورو سترگو وکا
هسي کار نه سي په تورو په لښکر

چا به راکړه په پالنگ دا هسي کښـلي
که مي نه وي په ازل په قسمت کښلي

د خان په کلام کي صنعت د ذولسانين هم ډېر راغلی، دی پښتواو پارسي او هندي گډوډ سره وايي، لکه په ٧١، ١٠٢،٢٠٧،٣٧٣،٣٨٦ مخو کي چي ليکلي دي، په (٣٣٧) مخ (راته نيسي الخ) او په (٢٣٤) مخ (ښايسته الخ) صنعت د ردالعجز على الصدر دی. د (٨٥٤) مخ په آخرنی رباعي کي صنعت د درو ټکو کلمو دی، او په دې رباعي کي صنعت د لزوم د متصل الحروف او تجنيس مراعات سوی دی :

ښې چين چين څني پښتنې جني
په شــــين شين ځي شين جـني
نن نغتي نشي تـــشي پُښـــــتني
تشي پښتنې فتــــــنې شي ځني

دغسي هم د کتاب د پای په مخو کي صنعتونه د رقطا او غير منقوط او نور راغلي دي، خوشحال خان په ادا د نريو نريو خيالو او تازه افکارو غښتلی دی، ډېر ځله داسي مضامين وايي چي بالکل نوي وي، ابتکار د ده د کلام گېڼه ده، مثلاً په دې يوه بيت کي ده يو جهان ابتکار او ډېر مضمون ځای کړی دی.

د عشق په دنيا کي ماڼی، او د محبوب خوابدی دومره يو مبتذل او مستعمل مضمون دی چي هر شاعر څه پکي ويلي دي، محبوب چي خوابدی سي البته پر مين باندي ستم کوي، مگر د مين زړه چي هغه پرهارونه غواړي، هغه لا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مومي، ځکه چي د میني پرهار تر هر څه خوږ او خوښ دی :

خویش را بر نوك مژگان ستم کیـــــشان زدم
آن قدر زخمی که دل میخواست در خنجر نبود

د عشق دنیا عجیب نړۍ ده، ترخه پکي خواږه کیږي، او زهر پکي ګنی ښکاره کیږي.ښکنځل خو ترخي دي، مګر د عشق په دنیا کي ښېل خوند لري :-

دشنام دهی و بر لب تو
روح القدس آفرین نوید

خلاصه چي په عشق کي د ماڼي د دنیا واردات خورا ډول ډول او راز راز دي، خوشحال خان په دغه بیت کي اعجاز کوي :

په ماڼي یې مرده شویو کره عید وي
په خندا یې جـــــــوهري کره ژړا وي

لومړی خو په دغه بیت کي صنعت د طباق او تضاد سته، د ماڼي، اختر، خندا، ژړا تلازم ډېر خوږ دی، مطلب خو دا دی چي د عشق وژلی او د محبوب د مګاڼي مقتولان خورا ډېر وي، ولي چي مقتولان ډېر سي البته مرده شوی خوښیږي او په خندا خو مرغلري له خولې څخه راتووي، نو چي مرغلري ډېري سي، البته وړیا کیږي، او د جوهري او مرغلري والا بازار کوټه کیږي، د کلام یوه لو برخه ساقطه ده، مګر مطلب ښه روښانه او اوڅار دی.

دا قدرت د بیان او په عین وخت کي فوق العاده بلاغت د خان د کلام له خصوصیاتو څخه دی. په دې رباعي کي چي ابتکار سوی دی هم خورا خوږ دی :

چي آئینې ته ښـــــــکاره دیدار کړي
آئینه درسته سره ګــــــــــــلزار کړي
چي شونډي کېږدي د جام پر مورګو
اوبه په جـــــــــــام کي رُب انار کړي

د فکر قهرمان :

د شاعر او ادیب نظر تر نورو رسا دی، هغه چي شاعر یې ویني هر څوك نه ویني، په پسرلي چي سره او زرغونه ګلان له مځکي څخه راووزي، وګړي خو دا ګلان د ننداږې او خوند په سترګه ویني، نشاط او خوښي ځني مومي، مګر شاعر عبرت ځني اخلي، او ګوري چي دا خاوره چي نن ګلان ځني غوټیږي، پرون د کوم انسان د بدن خاوره وه !

دا فکر په شاعر کي خورا زوږ دی، هر چا څه پر ویلي دي، ابوالعلاء معري (٤٤٩ هـ) د عربي مشهور فیلسوف ژبه ور وایي :

حفف الوطاء ما اظن ادیم ال
ارض الامن هذه الاجـــــساد
و قبیح بناوان قدم الـــــعهد

(c) ketabton.com: The Digital Library



و هو ان الآباء والاجـــــــداد

یعني : قدمونه پر مخکه ورو وروږده، ولي چي دغه مځکه زموږ د نیکونو بدنونه او اجساد دي. د ادباوو تر منځ توارد او د فکر توافق دی، عمر خیام بلخي هم دغه مضمون ښه ویلی :

هر سبزه که بر کنار جوئی رســـته است

گوئی زلب فرشته روئی رســـــته است

تا بر لب ســــــــبزه پا به خواری ننهی

کان سبزه زخاك لاله روئی رسته است

سعدي هم وایي چي یوه ورځ مي ترښخ پر مځکه ووهله، دا ږغ ځني راغی :

که زنهار اگر مردی آهســــــــته تر

که چشم و بناگوش و روی است وسر

د هندوستان مشهور ادیب غالب دهلوی هم دا مضمون داسي وایي :

سب کهان کچهہ لاله و گل نمایان هـــــو گئین

خاك مین کیا صورتین هونگی که پنهان هوگئین

یعني په خاورو کي ښکلي بدنونه پټ سوي دي، له هغو څخه لږ اوس د غاټوی په شکل راوتلي دي.

د خوشحال خان زوی عبدالقادر خټك هم دا مضمون په پښتو داسي ویلي دي :-

قدم په ورو ورو په احــــتیاط ږده

چي توري خاوري ښکلي مخونه دي

مگر خوشحال خان په فکر کي مبتکر دی، دا زوړ فکر ده په نوي ډول اما خورا خوږ ادا کړی دی، چي زما په عقیده تر ټولو ادباوو اوړي، که د تقدیر په سترگه ورته وگورو، البته راښکاره به سي، خان وایي :-

چي هونبره ښه مخونه په دا خاورو کي په گور دي

چي دیو لره وردرومم گور و مــــــــا وته ارم دی

وگورئ مضمون هغه مبتذل او زوړ مضمون دی مگر د پښتانه فکري ابتکار خو د نورو تقلید نه مني، خان هغه مضمون په داسي ډول ادا کی، چي ساري نه لري.

نو خوشحال خان لکه د توري او میدان قهرمان چي دی، دغسي د فکر او ادب قهرمان هم دی که د خبرو له اوږدوالي څخه نه بېرېدای پر دغه موضوع به مو اوږده څېړنه کړې وای، مگر اوس په دغه قدر اکتفاء کوو.

نقاد خوشحال خان :-

نقد د ادب یو مهم ټوك دی، د نوي دنیا په اصطلاح ادب بې له نقده هیڅ قیمت نه لري، بلکي مؤثر او گټه زېرووونکی ادب هغه دی چي د نقد په گېڼه ښکلی وي.

پوهان وایي : چي ادباء او شعراء په خپلو ادبیاتو او نارو او غلبلو سره ملتونه ویښوي حال یې وراړوي، او د لوړتیا پر خوا یې بیایي، رشتیا هم دا ده، ځکه تر هغو چي یو اولس پخپله کښته والي پوه نه سي، او خپل عیوب او گوډي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وراني ورښكاره نه سي تر هغو په اصلاح كي برى نه سي ميندلاى، ځكه نو نقد په ادب كي هم هغه موقع لري لكه په اجتماع كي چي يې ميندلى دى.

په دې باره كي د لويانو او تېرو مېړو څخه ډېر اقوال او د ګټي ډكي ويناوي سته، قولوالحق و لو على انفسكم، نبوي حديث شريف دى، چي دغه اساس ته نو په نوې ژبه ادبي شجاعت وايي.

خوشحال خان خو په نقد كي زيړه او قوي ژبه لري، خاص بيا د پښتنو معايب او ځني بد خويونه په غندنه سره يادوي، او هر ځاى زيار كاږي چي دوى پخپلو عيبونو وپوهوي او د اصلاح خواته يې راولي، د ده د نقد ژبه ډېره تېره ده، پخپله وايي :-

ځما ژبه نه ده اور ده

ګـــزارونه د ټوپك كا

خوشحال خان لكه د توري مېړه چي دى، قلم يې هم په نقد كي د توري كار وركوي، د توريالي قلم ښايي چي دغسي وي:-

آفرين دي پر ويلو سه خوشحـــاله

چي د توري رژول كړې په قلم كي

خوشحال خان هر كله د پښتنو پر تېر عظمت چي د آسيا د يوې لويي برخي شاهنشاهان وه، افسوس كوي او هغه په خورا حسرت يادوي، قوم ويښوي، او د دوى د زاړه عظمت پر تحصيل ګماري :-

كه رشتيا وايم شېرشاه دا هـــسي نه و

لكه موږ يو نه پيدا له كوهســـــــــتانه

پښتانه چي بې ننګي كا څوك يې څه كا

ګورستان لره به درومو له ارمــــــــانه

د ختـــــــــكو د نفاق له ناپوهـــــــيه

يا چي غـــم لرم، له خـــــپله خـاندانه

چاته وايم څه به كښم څه هــونبره ندى

چي تمام سي له مذكـــــــــوره له بيانه

په نورو ځايو كي هم پر خپل قوم سخت تنقيدونه كوي، لكه : په ١٦٨، ٣٩٣، ٢٥١،٢٧٢،٣٨٥، ٧٢٧ مخو كي.

اخلاقي خوشحال خان :-

د خُلق په تعريف او د اخلاقو په خصوص كي د بشريت د پوهانو فكرونه مختلف او ډول ډول دي، چي موږ دلته لنډه اشاره ورته كوو، د انسانانو په زړو آثارو او هغو كتابونو كي چي اوس نو تر هغه زاړه كتابونه انسان ته نه دي پاته، مثلاً د هند په رګ ويد، او د زردشت په اوستا، او بيا په تورات شريف او د چين د كنفوسيوس او د بودا او نورو ټولو زړو آثارو كي اخلاق او د اخلاقو ښه ذكر سوى دى.

كه څه هم اخلاقيات د فلسفې يو مهم ټوك دي، مګر داسي ښكاره كيږي چي پر اخلاقي مسائلو تر فلسفيانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بحث دمخه هم په انسان کي اخلاقي حس و، په ساده ژبه د اخلاقو تعریف داسي کیږي، سړی به څنګه عمل او څنګه ژوندون کوي؟ د انسان افعال تر مختلفو مؤثراتو او محرکاتو لاندي دي، محیط، ارث، تربیه، دودونه، رسوم دا ټوله پر اعمالو اثر کوي، نو اخلاق د عملي ژوندون له پاره ځني قواعد او ضوابط دي[۱۱].

په یونان کي د پوهانو نظریات د اخلاقو په باب کي یا دا وه چي اخلاق ټوله پر ذوق او خوند بناء دي، ٤۰۰ کاله تر میلاد دمخه ارسیتیبس پر خوند Hondonisme د اخلاقو سټه ایښې وه، تر ده وروسته د ده نورو ملګرو یا شاګردانو لکه اپیکور (۳٤۲ _ ۲۷۱ ق.م) Epicur د ده نظریه تعدیل کړه، مګر یوه بله ډله چي د دوی مشر سقراط (٤۷۰ _ ٤۰۰ ق.م) Socrates او وروسته نو افلاطون Plato (٤۲۷ _ ۳٤۷ ق.م) او بیا ارسطو Aristotle (۳۸٤ _ ۳۲۲ ق.م) غوندي نامتو پوهان په دغه ډله کي دي، دوی هغه اخلاقي نظریه واړوله او ویې ویل چي زموږ په اعمالو او خواهشو کي مطلب زموږ سعادت دی، او سعادت هم په ښو اخلاقو اړه لري، ښه اخلاق په پوهنه (معرفت) سره میندل کیږي، سقراط اجتماعي سعادت تر شخصي سعادت دمخه کوي، افلاطون له سقراط سره په دې نظریه کي چي پوهنه د ښو اخلاقو سټه ده ملګری دی، او سعادت او ښه اخلاق هم غبرګولي سره بولي، ارسطو هم سعادت خیراعظم ګڼي[۱۲].

رواقیون (چي د یونان د فلاسفه وو یوه ډله ده) پخپله فضیلت بالذات مقصد او غرض ګڼي، چي په زیار سره یې انسان میندلای سي، خلاصه د اخلاقو پر اصل د پوهانو آراء مختلف دي، مګر دغه خبره چي آیا اخلاق اکتسابي دي که ارثي هم تر څېړنه لاندي ده او پوهان ډول ډول آراء پکي لري، سقراط د فضیلت اساس عقل ګڼي، نه عادت او تربیت، مګر ارسطو وایي چي فضایل د عقل او حکمت په ښوونه تر تربیت او مشق او پالني لاندي موندل کیږي[۱۳] په اسلامي پوهانو کي شېخ محی الدین عربی (٥٦۰ هـ) وایي چي خُلق د نفس هغه حال دی، چي په انسان ټوله کارونه بې اختیاره کوي، خُلق ځیني وخت غریزي وي او کله کله په ریاضت او زیار مینده کیږي[۱٤] د اسلام بل اخلاقي فیلسوف ابو علي ابن مسکویه هم عیناً د ابن عربي ملګری دی، دی خیر هغه شی بولي چي انسان د خپل ژوندون مقاصد په حاصلوي، یا یې په تکمیل کوي، دی د ښو اخلاقو په فطریت او اکتسابیت کي جلا رأیه لري، وایي : چي ځیني خلك فطرتاً او په خټه کي فضیلت لري، ځیني بیا فطرتاً بدخُلقه وي، ځیني داسي وي چي نه ښه وي، نه بد، د دغه سړي نو په روزنه او تربیت او عادت سره ښه کېدلای سي[۱٥] د ابن مسکویه نظریه هغه ده، چي جالینوس یونانی فیلسوف یې هم دمخه ملګری و [۱٦] اوس نو دا خبره هم څېړنه غواړي چي آیا د انسان په خټه او سرشت کي ښه اخلاق اخښلي دي که بد؟

زیوس Zeus یونانی رواقي فیلسوف (۳۰۰ ق.م) ښه اخلاق طبیعي او بد خوی کسبي ګڼي، دی وایي انسان د ښو اخلاقو سره زېږي، بد اخلاق وروسته مومي[۱۷]. حضرت امام ابو حامد غزالي (٤٥۰ _ ٥۰٥ هـ) چي د اسلام یو اخلاقي فیلسوف او عارف دی هم وایي چي د سړي زړه یوه روڼه هنداره ده، او د بدو اخلاقو لوګی پر کېني، حضرت غزالي په دې فلسفه کي یو حدیث شریف هم راوړی چي "اتبع الحسنه السیئه لیمحیها" یعني په هر بد پسي ښه کوئ، چي هغه وزدویي [۱۸]. حضرت امام د اخلاقو د ښېګڼي له پاره زیار او عادت او جهاد لازم ګڼي، او بد خویونه اکتسابي ګڼي، چي قابل د اصلاح دي[۱۹].

مګر بالعکس شېخ محی الدین ابن عربي د دې طرفدار دی چي بد اخلاق د انسان پر طبیعت غالب دي، او په جبلت کي یې بد اخلاق وراخښلي دي[۲۰].

تر دې پوهانو وروسته د اروپا فلاسفه او مفکرین هم په دغه موضوع کي متضاد افکار لري، ژون کوك (۱٦۳۳ _

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷۰۳ ع) د معرفت د نظریې خاوند وايي : چي انسان له هر معنوي او ارثي اثره څخه پاك زیږي، د ده طبع چي یوه پاکه هنداره ده وروسته په تربیه هر څه قبولوي، تر ده وروسته روسو د فرانسې نامتو فیلسوف Rousseau (۱۷۱۲ _ ۱۷۷۸ ع) هم د ده ملګری دی[۲۱].

د پسیکولوژۍ علماء او ځیني نور فلاسفه لکه برکلي Berkely (۱٦۸٤ _ ۱۷٥۳ ع) او د ده ملګري خُلق د طبائعو مزاوجت او د نفس د خصائصو د نښتو نتیجه بولي، چي د خارجي عواملو تر اثر لاندي دي، چي دوی هم ګویا د روسو د فکر ملګري دي، اما مالبرانش Mallranche (۱٦۳۸ _ ۱۷۱٥ ع) فرانسوی فیلسوف وايي چي : ټوله ښه یا بد اخلاق د انسان سره یو ځای زیږي، نفس هیڅ نوی شی په ده کي نه سي زیاتي کولای[۲۲]. کانټ Kant (۱۷۲٤ _ ۱۸۰٤ ع) او د ده ملګري لکه فخته Fichte (۱۷٦۲ _ ۱۸۱٤ ع) هیګل Hegel (۱۷۷۰ _ ۱۸۲۱ ع) د اخلاقو په اړولو قائل نه دي، او وايي چي د اخلاقو د اصلاح له پاره د نسل او د ټولو انسانانو اصلاح ضرور ده، کانټ، یو (اصلي صورت) فرض کړی دی، چي هغه نو فطریات او غرائز دي، چي د انسان د دماغي او عصبي ساختمان تابع دي[۲۳].

شوپنهاور (۱۷۸۸ _ ۱۸٦۰ ع) چي د متشائمینو فیلسوفانو مشر دی، هم د اخلاقو په تغیر قائل نه دی، مګر وروستني هغه فلاسفه چي د پداګوژي یعني علم تربیت پوهان دي، لکه هربرت سپنسر H.Spencer (۱۸۲۰ ع) نیتشه Nietzche (۱۸٤٤ _ ۱۹۰۰ ع) او نور ... د اخلاقو د اصلاح له پاره د روزني د علم طرفداران دي، سپنسر وايي : د زمانو اوږدوالی او د خارجي قواوو تضیقات په اخلاقو کي تحول اچوي چي اجتماعي فلاسفه هم په دغه قایل دي.

اسلامي اخلاقي نظریه :

اوس چي موږ د دنیا د پوهانو اخلاقي نظریات لږ څه ذکر کړه، را به سو چي زموږ مقدس دین څه فرمايي؟

اسلام خو د اخلاقو بشپړ کوونکی دی، لکه چي حدیث شریف دی : "انما بعثت لا تمم مکارم الاخلاق " یعني زه د اخلاقو د بشپړوالي له پاره راغلی یم[۲٤].

د اخلاقو بشپړوالی او تکمیل خو په دې صورتو کي ممکن دی :

(۱) هغه اخلاق چي په ژوندون کي لازم دي، په یوه قوم کي له دغو څخه ځني لږ وي، نو چي هغه وومي دا نو تکمیل دی.

(۲) دوهم دا دی چي کوم خُلق په اندازه سره لازم وي، مګر په کوم قوم کي تر هغي اندازې ډېر وي، چي هغه ډېروالی یې لږ سي دا نو تکمیل دی.

(۳) دریم دا دی چي په یوه قوم کي د ژوندون لازمي اخلاق نه وي، نو چي دغه پکي موجود سي، تکمیل ورته وايي.

اوس به نو وګورو چي اسلام څنګه د اخلاقو تکمیل کړی دی :

(الف) اسلام چي دنیا ته راغی په انسانانو کي بد او ښه اخلاق ګډوډ وه، ځیني اخلاق تر اندازه ډېر او ځیني تر خپله ټکانه لږ وه، او ځیني ښه خویونه کورټ نه وه، نو د دې له پاره اسلام هغه خویونه چي په اندازه کي ډېر وه لږ یې کړه، او هغه چي لږ وه حد وسط ته یې راوسته، او ځیني اخلاقي لوازم چي نه وه، هغه یې بشریت ته تبلیغ کړه، د اسلام اخلاقي اساس خو اعتدال دی، چي ټول فطري قوا په اعتدال سره استعمال سي، دا اعتدال چي د اخلاقو د فلسفې اصطلاح ده، د شریعت او قرآن عظیم په ژبه صراط مستقیم ورته وايي، چي په ډېرو آیاتو کي د قرآن عظیم ستایلي سوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي (والذين اذا انفقوا لم يسرفوا ولم يقتروا و كان بين ذالك قواماً) يعنى د خداى مريى هغه دى چي په خرڅ كي اسراف او تنگي نه كوي، بلكي منځنى رفتار كوي.

په دې ډول اسلام خپله اخلاقي نظريه ټينګه كړه، او د انسانانو د اخلاقو د ښه كولو له پاره په تبليغ او ښوونه او تربيت قايل دى، اسلام وايي چي هر انسان د ښه او بد د تميز له پاره نفس لوامه لري، او پخپل ځان خبر دى [۲۵]، يعني د بدو په كړن كي نفس لوامه سړى ملامتوي، حضرت رسول په يوه حديث شريف كي فرمايي : (البر حسن الخلق و الاثم ما حاك فى صدرك و كرهت ان يطلع عليه الناس) يعنى : ښېګڼه ښه خوى دى، او ګناه هغه ده چي ته يې خوښه نه لرې، چي نور دي په خبر سي. د دې اخلاقي نظريې طرفداران په فلاسفه وو كي هم ډېر دي، د علم الاخلاق په اصطلاح كي دغه اخلاقي پټ ضمير، يعني نفس لوامه، وجدان يا اخلاقي حاسه بولي، اسلام دغه د فطرت نقاده قوه ټينګوي، او په تبليغ او ښوونه يې په خلكو كي كري، وروسته نو د دغي قوي ټينګار په يوه بله ذريعه كوي هغه نو احتساب دى، چي په اصولو د تلقين د علم النفس پر ډول سم، د نفس لوامه او وجدان تقويه او ملګري كوي، ځكه نو تبليغ او امر په معروف د اسلام يو مهم جز دى، يأمرون بالمعروف و ينهون عن المنكر و يسارعون فى الخيرات (آلايه).

د خوشحال تربيوي او اخلاقي نظريه :

خوشحال خان د انسان فطرت او ختِه و هر څه ته مستعده بولي، او د انسان د لوړتيا او سړيتوب له پاره روزنه ضرور ګڼي، دى وايي چي انسان هم ښكته كېداى او هم لوړېداى سي او د فطرت هر راز ارتقاء ته مستعد وي :-

دا سړى چي فرشته دى هم شيطان دى
كه سړى و خپل عمل ته نــــګران سي
يو په بد عمل كي ځي تحت الـثراء ته
بل په ښه عمل كي پاسه په اسمان سي

په دې دوو بيتو كې د انسان د فطرت دوه پلوه وښوول، وروسته نو خپله تربيوي نظريه داسي څرګندوي :-

تربيت كه د باغوان له لاسه مــــــومي
په هر ځاى باندي ګلونه د بوستان سي
هر استاد سره چي كښي يو څــو ورځي
د هغه هــــــنر په ده كي نمايان ســي
د نېكانو په صحبت كي به ښه كـــېږي
اوليا له اوليا نه راعـــــيان ســــــي
د مـــــغلو سره كښاسته مــــــغل سه
د افغان سره كه كښي نور افـغان سي
د خوشحال سره كه كښي يو څـو كاله
دا د غره ختِك به واړه شاعــران سي

خوشحال خان وايي كه يو وار د سړي په بده تربيه سره بد خويونه په دماغ كي كښاسته، بيا يې بېول او لېرل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول هم ګران کار دی :-

که بد خوی په چا کي کښني نور عادت سي
عادت نه دروميي له شـــــــــخصه په تعذير

په دې نظريه کي د ټينګار د اعتباد چي ګوستاولوبون د فرانسې وروستني فيلسوف يې طبيعت ثانوي بولي، خوشحال خان کټ مټ لکه د اوسنۍ زمانې د علم النفس او د روزني علماء دغسي تفکر لري، اما په نظريه کي د وراثت او فطريت د اخلاقو هم لکه ځيني فلاسفه چي دمخه مو نظريات ذکر کړه خان صائب نظريات لري، او په بديهي الفاظو او ښکاره تمثيلاتو خپله نظريه تمثيل کوي :-

چي وودلي وي په ذات توره شړۍ
سپينول يې و هر چا وته دي شــاق

يا :-

د عسل سره يې خوره خوړه به نه سي
مړغونې چي ترخه ده په ميـــــــــثاق

يا :-

که کارګه غوندي يې فهم وي خوشحاله
هيـڅ استاد به شين طوطا نه کړي ناطق

دا نظريه کټ مټ د اوسنيو لويو علماوو او د روزني د علم د پوهانو لکه ويليام جيمس د امريکا او نورو ... نظريات دي، زموږ په مشرقي پوهانو کي هم اکثر پوهان خاص بيا سعدي په ډيرو ځايو کي د دې نظريې سيله کړې ده.

د خوشحال خان اخلاقي نظريات عيناً هغه نظريات دي، چي اسلام يې لري، د انسان د فطرت انحطاط او ارتقاء قرآن عظيم په دې ژبه ښيي (لقد خلقنا الانسان فی احسن التقويم، ثم رددناه اسفل السافلين) دا خو د انسان هغه لوړتوب او کښته والی دی چي خوشحال خان يې په لوړو بيتو کي له مشکوه الّهی څخه اقتباس کړی دی، وروسته نو په (الا الذين آمنوا و عملو الصالحات) کي چي د نبوت د تربيت نتايج دي بيا د روزني او پالني ګټي ښه ښکاره دي. خان پخپله اخلاقي او تربيوي فلسفه کي دغسي د خپل دين او قرآنه استفاده او استفاضه کړېده، او په دې ژبه دا آسماني اسرار او فيوض بيانوي :-

چي ظلوم جهول ياديږي، کُنت کنزاً هم پوهـــيږي
ته و دا ته نظر مکړه چي دا غوښـي استخوان يې

دغه بدله ټوله په (۵۹۱) مخ کي وګورئ. دغسي هم د ۱۱۷، ۱٦۰، ۲۲٤، ۵۱۷ مخو په بدلو کي دغه حقايق ښه بيان سوي دي.

څکه چي خان په دنيا کي د اخلاقو د تبليغ او تربيت په ګټو پوه دی، نو دی هر کله پخپله کلام کي د ښو خويونو تبليغ او د بدو خويونو تقبيح کوي، او په ډول ډول اخلاقي مضامين لري، چي تاسي به په دې کتاب کي هر ځای خاص بيا په رباعياتو او قطعاتو کي وګوری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلسفي خوشحال خان :-

فلسفه خو د انسان د ذهني ارتقاء سره يو ځاى پيدا سوې ده، او د فلسفې خاوندان له ابتداء څخه تر اوسه پوري په بشر كي د لوړ مقام څښتنان دي.

په شاعري كي خو هم فلسفه له ابتداء څخه ګډه وه، بلكي فلسفه د ادب روح دى، او فلسفي افكار د ټولو ملتو په شاعري كي سته، فلسفه خو د شيانو د حقايقو درك دىكماهي او پېژندنه د هغو شيانو ده چي په عقل او خارجي حواسو اړه لري[٢٦] د فلسفې لومړى حد د علومو مينه او منځ يې حتى المقدور د موجوداتو د حقايقو پېژندنه ده او پاى يې علم او عمل دى[٢٧] ځكه چي شعر هم د طبيعت ترجماني، او د فطرت او ضمير ږغ دى، او د شيانو په حقيقت كي تفكر هم د انسان په خټه اخښلى دى نو شعر او فلسفه پر يوه نقطه تقاطع كوي.

د مشرق ډېر شعراء او ويونكي سړي فلسفي افكار هم لري، په پارسي كي د سعدي، حافظ، بيدل، خيام او ابن يمين او نورو كلام د فلسفې څخه ډك دى. په عربي كي هم د اموي او عباسي دورو ويونكي په شعر فلسفه ګډوي، لكه ابوالعلاء او احظل، مهيار، بشار او نور د پښتو شعر هم په فلسفه كي د پارسي او عري سره نژدېوالى لري، شعراء ډېر ځله فلسفي افكار په خپلو ويناوو كي ښكاره كوي، د خوشحال خان اخلاقي او تربيوي فلسفه خو موږ دمخه وښووله، اوس به نو د مثال په ډول د ده ځيني فلسفي افكار هم ښكاره كړو :

معنوي فلسفه :-

لكه د اخلاقو په بحث كي چي وښوول سوه، د بشر د پوهانو ډلي پخپلو افكار كي سره بېلي دي، ذوقيون د بشريت ټوله ژوندون او مصالح پر خوند بنا كوي، ماديون د ظواهرو پر خوا دي، مګر خان خو په فلسفه كي د هغه تفكر طرفدار دى، چي انسان يوازي دغه ظواهر او خوند نه بولي، بلكي ځيني معنوي و روحي خواص او مزايا هم ورته ثابت بولي، دوى وايي : ښايي انسان په دې ظاهري شيانو كي پاته نه سي او باطن صفا كړي او لرونكى د معنويت سي. ولي چي په دغو ظاهري اكثرو شيانو كي چي اساس يې ذوق دى حيوان هم د انسان سره شريك دى، حال دا چي انسان خو انسان دى، او حيوان نه دى .

خوشحال خان دغه فلسفه چي د بشر اكثر پوهان يې مبلغ دي، ډېره بيانوي د ده په كلام كي هر ځاى و حقايقو او معنوياتو ته بلنه سته، او يوازي ظواهر د بشريت له پاره لازم نه ګڼي، مثلا وايي :-

د سړي قدر قيمت په اعــــــــتبار دى
چي خواږه ورځني ولاړل ګنى كاه سي

خوشحال خان وايي دا د دنيا خوندونه او لذتونه ټوله فاني دي، د فاني او بې پايه شي غوښتنه پوهي نه ده، ځكه نو انسان ته د معنوياتو پلټنه ضرور ده :-

اورنــــــګزېب چي آرايش د تخت و تاج كا
تخت و تاج به يې مرګى تاخت و تاراج كا
په جهان كـــــي به يې پاتو ښه بد نــوم سي
ده زده چاري د كسرا كه د حــــــــــجاج كا؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



حيرت :-

فلسفه خو د حقايقو پر درك بنا سوې ده او فيلسوف هغه څوك دی چي د دغه كاره سره مينه لري، مگر كه تاسي ټوله د دنيا فلسفه وپلټی او د پوهي خاوندان وپوښتی هيڅوك د حقيقت په درك كماهي نه دی كامياب سوی، پوهان وايي : چي د پوهې پای حيرت دی، سقراط هغه وخت پوه سو، چي پخپله ناپوهي وپوهېدی، د دنيا لوی لوی فلاسفه په پای كي پخپله ناپوهي او عجز قايل سوي دي، امام فخر الدين رازي د خپل عمر په پای كي وايي : (معلوم شد كه هيچ معلوم نشد)، بوعلي سينا وايي :-

دل گر چه درين باديه بسيار شتافت
يك موی ندانست ولی موی شـگافت
اندر دل من هـزار خــورشــيد بتافت
و آخــــر بكـــــمال ذرهٔ راه نيافت

لامارك ويلي دي : چي زموږ ټوله علم تر دې نه زياتيږي چي موږ په خپل جهل اقرار وكړو. سپنسر د انگليسانو فيلسوف هم داسي په خپله ناپوهي قايل دی : "د شيانو د حقايقو د پوښتني په جواب كي ښېله دې څه نه سوای ويلای چي په هيڅ نه پوهېږو". خلاصه د حقايقو پلټنه و انسان ته مقدور نه ده، تر دې اندازې چي ځيني فلاسفه په لا ادريت هم قايل دي، او د فلسفې پای دغه حيرت دی و بس !

فن المحبآ فما ادق فنه
متحير فــيه اما الرازی

خوشحال خان هم يو مفكر او پوه پښتون دی، دی عقل د ټولو حقايقو د پلټني او تحقيق قابل نه بولي، او پر خلاف د عقليونو خپله فلسفه داسي ښكاره كوي :-

مكړه نادانه د نــــــــــــكړو كار دی
دا چي پرې خېژې غاښې دشوار دی
خر دي كمزوری زبون لــــــــيده سي
چي دي پر ايښې دا هونـبره بار دی

خوشحال خان چي هر څه په عقلي سير كي زغرد سوی او خپله قوه يې د فلسفې په لار كي صرف كړې ده، په هيڅ نه دی پوهېدلی او په حيرت كي ډوب دی، دی وايي :-

ما چي نظر وكړ په ذرات په موجـــــــــــودات
گول په جهان راغلم ترې به گول درومم هيهات
يو څادر تر ميان وي فهم پاتو سي له كــــاره
دا هونبره كيسي هونبره ادراك د ســـــماوات
هيڅ ولي نبي يې درست اسرار مـوندلي نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لويه کارخانه ده که وګـورې کـــــــائنات

حيرت خو په حقيقت کي د فلسفې پای او نتيجه ده، له سقراطه تر ابن سينا پوري ټوله و پاخه مقام ته د فلسفې په دغه ځای کي رسېدلي دي، خان د دغه حال په بيان کي څرګنده ويناوي لري، مثلاً وايي :-

حيران يم نه پوهېږم چي زه څه يم څه به سم
له کومه يم راغلی بيا به کوم لوري ته ځـــم
جهان يو کټوری سو زه په مثل د مېږي يم
حيران پکي جاروزم لاس و پښې پکي وهم

تر دې لا لوړ يو ګام ورهيسته خوشحال خان په فلسفي ژبه د دنيا حقيقت داسي ښکاره کوي :-

دنيا وته چي ګورم کاروبار ته د وګــــــړي
د اوړکيو تماشې دي زه يې هم ورسره کړم

د ژوندون فلسفه :-

د ژوندون اسرار خو کماهي چا نه دي موندلي، او د فلسفيانو د پلټني پای لکه لوړ چي مو وويل، دغه حيرت او ناپوهي ده، مګر د ژوندون د تېرولو او ډول په باب کي هم پوهان مختلف او ډول ډول آراء لري، که په لنډو الفاظو سره ووايو، فلاسفه په دغه موضوع کي دوې ډلي دي، لومړۍ هغه ډله ده چي د نفي د خوا طرفداران دي يعني د ژوندون پر ځای يې مړينه مدنظر ده، دوی د ژوندون د ترخو او مشکلاتو په مقابل کي تېښته کوي، نه ټينګار، دا هغه مقام دی چي زموږ په اشنا الفاظو کي بېخودي ورته وايي، دوهمه ډله هغه پوهان دي، چي په تنازع للبقا قايل دي او دنيا د زيار او جهد ميدان ګڼي، او وايي چي د انسان ښېګڼه په دغه کي ده چي د مادې په تسخير کي تل جګړه او زيار وکړي.

د لومړي فکر سټه په زاړه يونان کي افلاطون او د ده ملګرو اېښې وه، او په اوس عصر کي دا فکر د قنوطي او متشائم پوهانو خاص بيا د بدليدونکو مشر شوپنهاور له خوا په نوي ډول او نوې ګېڼه راوتلې ده.

د دوهم فکر سيله کوونکي خو د يونان د يمقراطي او ماديون پوهان وه، چي په نوې دنيا کي کانټ د دغه فکر روزونکی او نيتشه يې په مقابل کي د نفي کوونکو قنوطي پوهانو خپروونکی دی، دا ډله د اثبات او جهد للبقا پر خوا دي، او نيتشه د ژوندون فلسفه د اقتدار پر غوښتنه بنا کوي، د انګليسي ډاروين د نشو و ارتقاء فلسفه خو هم پر دغه اساس ټينګه ده او د ژوندون له پاره جګړه د ده د مادي فلسفې اساس دی "ته له دغه ځايه ولاړ سه چي زه دلته کېنم" دا مسلك د خودۍ او ځان ځانۍ طرفدار دی، او نن ورځ هم په دنيا کي دغه فلسفه پر مختللې ده، ملل هم لکه افراد، خپلواکي غواړي، او د بل چا اقتدار چي د خودۍ نافي دي، له ځانه اړوي.

د المان قنوطي فيلسوف شوپنهاور وايي چي : ځان ځاني اصل او سټه د ټولو ناورينونو او ويرونو ده، تر هغو چي سړی ځان د ژوندون مرکز ګڼي، راحت ته نه سي رسېدلای، دی وايي چي ژوندون او د ژوندون خواهش يو غم دی، نو تر هغو چي دغه خواهش ورك نه سي غم هم نه ورکيږي، نو په حقيقت کي غم ثابت او اصل دی، خوښي د غم له لړوالي څخه مينده کيږي، په شاعرانو او ويونکو کي خو د دغه دواړو مسلکو طرفداران سته، مصلاً ابوالفرج روني وايي :-

(c) ketabton.com: The Digital Library



عنقای مغربست درین دشت خــــــرمی
خاص از برای محنت و رنج است آدمی

فردوسي د دې بلې خوا عقايد داسي وايي، او جنگ اساس د حيات گڼي :-

اگر خود نزادی خردمند مرد
نبودی ورا روز ننگ و نــــبرد

حکيم سنايي دا ميدان د تنازع للبقا په دې ډول عارفانه تنقيد او تصوير کوي :-

این جهان بر مثال مرداریست
کر کسان گرد او هـــزار هـــزار
اي مر آن راهمی زند مـــخلب
آن مر این را هـــمی زند منقار

که دې دوو فلسفو ته په غور وګورو، راښکاره به سي چي حقيقت په اعتدال کي دی او امر په قرار د اسلامي مسلك بين الامرين دی، د دې زمانې په پوهانو کي د هند مشهور اديب او فيلسوف علامه اقبال چي د اروپا د فلسفې مکاتب يې لوستي او يو محقق سړی دی، ده اسلامي د ژوندون فلسفه غوره کړې ده، چي اعتدال او صراط مستقيم دی، اسلام که څه هم له يوې خوا دنيا فاني ګڼي، او حب د دنيا د ټولو خطاوو سر بولي،"حب الدنيا رأس كل خطيئه"  اما په عين زمان کي مسلمانان په جد او جهد سره هم امر کوي، ولي چي اساس د حيات دغه جهد دی، نو اسلام خو نه لکه ماديون يوازې دنيا د تنازع للبقا ميدان بولي او نه لکه رهبانيون او قنوطيون د دنيا په نفي او ترك امر فرمايي، بلکي امر بين الامرين دی، او سعادت هم په اعتدال کي دی.

د دنيا وراني خو لکه په رهبانيت کي چي ده دغسي هم په ماديت کي ده، رهباني د جد او جهد ميدان ته نه راځي، مادي تل پر دنيا سري اتري ولاړ وي، د نن ورځي مدنيت وراني چي پوهان ويني، هم د ماديت له افراطه څخه ده.

اسلام نه په رهبانيت او نفي انسان و کښته والي ته بيايي، چي لا رهبانيه فی الاسلام او نه يې په دنيا کي داسي غوټه کوي، چي پای يې جګړه او ورانی سي، (اعدلوا فهو اقرب للتقوی). علامه اقبال دغه اسلامي فلسفه چي په حقيقت کي اساس د ټولو ښېګڼو ده په دې ډول په دوه بيت کي ښه ادا کوي :-

تنی پيدا کن از مشت غــــــباری
تنی محکم تراز سنگين حصاری
درون اودل درد آشـــــــــــنايی
چو جوئی درکـــنار کـــوهساری

زموږ پښتون فيلسوف خوشحال خان په دې باب کي خورا پخه فلسفه لري او نظريات يې ډېر صائب دي، علامه اقبال خو د فلسفې دغه جګ مقام پسله ډېرو ويلو او لوستلو څخه ميندلی دی، د برلين او لندن د فلسفې مکاتب يې غوښتي دي، وروسته نو د مشرق په ټولو فلسفو کي ګرځېدلی دی، مګر زموږ پښتون نامتو سردار خو د پښتنوالي په فطانت او پوهي دغه حقيقت ښه ليدلي او ويلي دي، د پښتونخوا په لويو غرو کي يې د يونان او عربو او اروپا د فلسفې لب لباب ميندلي او ږغولي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ به لاندي د ده مهم افکار په دغه موضوع کي د فلسفې لنډ لنډ وښيو، پسله دغه څخه به نو تاسي پخپله دې پښتون ته د يوه نامتو فلسفي او مفکر لقب ورکړی .

د خوشحال خان د ژوندون فلسفه هغه د اعتدال فلسفه ده چي د نبوت له مشکوه اقتباس سوې ده، ځکه نو خورا پخه او ټينګه ده.

شوپنهاور وايي : "اويا کاله کيږي چي زه فکر وهم، اما ښېله دې مي بله نتيجه نه ده اخيستې، چي انسان د دې له پاره دی، چي په وير او ناورين کي به مري". خان وايي :-

خلق واړه د اندوه په درياب ډوب دي
کله کله له دريابه ســــــــــر بلند کا

دا هغه فکر دی چي ښادي او خوښي د وير لړوالی بولي، خلق د وير د درياب څپو اخيستي دي، خوښ او مسرور خلك داسي دي، لکه مفروق چي کله کله له اوبو سر راوباسي، بل ځای وايي :

ما په دا جهان کي غوښته مونده نه سوه
که په بل جـــــــــهان پيدا سي خرمي
چي په هيڅ ساعت خالي نه وي له غـــمه
مــــــــــــګر غم لره پــــــيدا دی آدمي

بل ځای دا فلسفه په دې ژبه څرګندوي :-

خواره حــــــــــيرانه بني آدمه !
چي دي خمير دی خاوري له غمه
يو دم که وخـاندې په دا دنيا کي
پيا دي ژړا وي په څــــو څو دمه

خوشحال خان وير د انسان په خټه اخښلی ګڼي، او په دغه نظرياتو سره دی د بدبينۍ او تشائم د مسلك Pessimism ملګری دی، دی دا هم وايي چي وير د ژوندونه سره لازم دی، ځکه چي که وير نه وي، خوښي به هم نه وي، د ترخو په سبب د خوږو قدر ښکاره کيږي :-

په باغ کي خلك په مېوه شخوند کا
په خوله کي هره مېوه خپل خوند کا
ترخه هم ښه دي په دا جـــهان کي
د خوږو قدر ترخه څرګــــــــند کا

دا ګويا د ده د نظريې يو فلسفي او ظاهري تعليل او برهان دی.

دا خو د خان نظريات وه په غم کي، مګر سره د دې هم خان په دنيا کي د کار او عمل يو جدي روح لري، او د مادي دنيا د انسان له پاره د زيار او جهد يو ارت ډګر ګڼي.

په دې ډول دی په بين الامرين قايل دی، په يوه خوا کي مفرط نه دی، د ده حيات که څه هم په ډيرو آلامو لړلی او ډېر ناورينونه پر ورغلي دي، سره د دې هم د ده د جهد روح نه دی مړ، او د نړۍ د څپو سره د مېړاني مقابله کوي، له

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه بیته د ده د پښتنوالي عملي روح ښه ځلیږي :-

د جهان غمونه ټوله پکي ځای ســـول
شکر دا چي زړه مي لوی راکړوما هم

خوشحال خان د زمانې د حوادثو سېلۍ ته داسي دی لکه غر، چي هیڅکله نه ښوري او نه اثر پر کولای سي :-

د عالم ډیري خبري لور په لور توري لښـــکري
زړه مي نه خوځي له ځایه غر خو هسي وي کنه

د هر شاعر کلام د ده د اخلاقو او زړه او د ده د نفسیاتو هنداره ده، فقط دغه یو بیت کافي دی چي زموږ د فیلسوف او پښتون ادیب د پښتنوالي ثبات او د زیار او جهد فلسفه دي څرگنده کي، نو یې لنډه دا ده چي خان د ژوندون فلسفه یوازي غم او درد او نری والی نه بولي، او نه یوازي د تنازع او جگړې پر خوا دی، بلکه یوه معتدله فلسفه یې غوره کړې ده، چي و تحقیق ته نژدې ده.

صوفي خوشحال خان:-

د تصوف په تسمیه او اساس کي پوهان ډول ډول افکار لري، حضرت معروف کرخي یې د رباني حقایقو تعقلً او قشمیري یې د "انتهایي حقیقت پوهنه" بولي[۲۸]. په اصل کي خو متصوفانه افکار په ټولو زړو ملتو کي هم وه، د هند ویدانت او د نوي فلاطونیت د فلسفې افکار خو اکثر د تصوف سره سموالی لري، فلسفه او تصوف تر دې اندازې سره گډ دي چي د تصوف نوم هم ځیني علماء له سوف مشتق او معرب گڼي، ابوریحان بیروني (٤٤٠ هـ وفات) لیکي :

"هذا رای السوفیه، و هم الحکماء، فان السوف بالیونانیه الحکمه و بهاسمي الفیلسوف پیلاسوپا ای محب الحکمه و لما ذهب فی الاسلام قوم الی قریب من رأیهم سموا باسمهم ...[۲۹]"

حکیم عمر خیام بلخي وایي : چي اهل تصوف په تفکر او اندېښنه سره د معرفت غوښتنه کوي، د باطن تصفیه، د اخلاقو تهذیب، د نفس نامانته پاکي، د طبیعت له تورکنو څخه کوي، چي دا لار دمعرفت له پاره تر ټولو ښه ده[۳۰]، حضرت امام غزالي هم خپل وروستنی تحقیق او سمه لار تصوف گڼي[۳۱]. نو تصوف یو مسلك دی چي اسلامي پوهان وایي، په قرآن عظیم کي چي هر ځای د کتاب سره لفظ د حکمت راغلی دی، مطلب پکي دغه پاك مسلك دی[۳۲]، په سورهْ بقره کي دي "و یعلمکم الکتاب و الحکمآ" په حدیث شریف او سنت نبوي کي د ایمان سره احسان ذکر سوی دی (لکه په صحیح بخاري ابواب الایمان کي) حضرت شاه ولي الله صاحب دهلوي محدث وایي، چي په احسان کي مطلب اسلامي تصوف دی[۳۳]. ځیني پوهان تر ډیري پلټني وروسته په دې قایل دي چي تصوف پر دوه ډوله په مسلمانانو کي راغلی دی، یو فلسفیانه تصوف دی چي د اسلام اکثر حکماء او پوهان په دغه ډله کي دي، لکه ابن سینا، فارابي، خیام او د اخوان الصفا لیکونکی، چي د دوی فلسفه د اشراقیت او د نوي فلاطونیت له مدرسو څخه اخیسته سوې ده[۳٤].

دوهمه ډله د اسلامي او دیني تصوف والا ده، چي دغه ډله هم څه نه څه فلسفي افکار لري، مگر استفاضه و استفاده یې له مشکوه د قرآن او سنت نبوي ده، اسلامي عرفاء ټوله په دغه ډله کي شامل دي چي مشران یې حضرت امام غزالي، شیخ محی الدین عربي، حضرت ابن تمیمه، حضرت مولانای رومی (بلخي) او نور مشاهیر عرفاء او متصوفین دي.

په عربي او پارسي ادب کي خو د دغو دواړو مسلکو خاوندان لیدل کیږي او تصوف د پارسي ادب روح دی، شبلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نعماني وايي چي تر تصوف دمخه پارسي ادب يو خالي كالبت و[۳۵]، لومړی حضرت شيخ عطار او مولانای رومي او نورو شاعرانو تصوف په پارسي ادب کډ کی، چي تراوسه پوري تصوف د ادبياتو روح دی.

په پښتو ادبياتو خو هم لومړۍ ابتداء سوې ده، د پښتو د شعر لومړۍ نشو ونما ادبي ارتقاء د مغولي اكبر پاچا له عصره شروع كيږي، په دغه وخت كي په هند او ايران كي د تصوف مسلك غالب و، او د ننگرهار او اټك په پښتنو كي يو سړی و، چي بايزيد بن عبدالله نومېدی، او اصلاً د كندهار له خوا او وروسته په اورمړ كي د كاڼي كورم ميشته سو، دا سړی وروسته په پير روښان مشهور سو، او ډېر مريدان يې وميندل، د اكبر پاچا له صوبدار سره يې سخت جنگونه وكړل ، دا سړی يو كتاب هم لري، چي خيرالبيان يې نوم دی، او اقوال يې ټوله متصوفانه دي[۳٦].

پير روښان په هند او ايران او توركستان كي ډېر سفرونه كړي وه، د ده عقايد و باطنيه او قرامطه ته مايل دي، او لكه اخوند درويزه چي ليكي ده په پښتو په پارسي په هندي اشعار ويلي او خپل افكار يې پكي راوړي دي[۳۷]. پير روښان په پښتو او پښتو ادب كي افراطي او فلسفيانه تصوف افكار داخل كړه، او اخوند درويزه هم د ده په مقابل كي مخزن الاسلام او ارشاد الطالبين او تذكره الابرار كتابونه نشر كړل، د پير روښان شاگردانو هم ټوله تصوف په پښتو كي داخل كړه، ميرزا انصاري چي يوسفزی و، يو كامل دېوان د تصوف په پښتو جوړ كړ[۳۸] تر دوی وروسته نو تصوف هم د پښتو اشعارو، يو مهم ټوك سو، او ټولو شاعرانو پر دغه موضوع څه څه ويلي دي، لكه عبدالرحمن، حيمد، عبدالعظيم، ارزاني او نور ...

د خوشحال خان تصوف :

خوشحال خان په تصوف كي ښه ويل او خواږه اشعار لري، د ده تصوف اسلامي دی، كه څه هم كله كله د فلسفي گراني ويناوي او غامض بحثونه هم كوي، مگر د افراط له خوا ځخه ځان گواښي، خوشحال خان په طريقت كي د شېخ رحمكار مقلد دی، او د ده تصوف هم لكه چي له دغه مشعله رڼيږي، دلته به موږ د خان ځيني متصوفانه افكار وليكو :

د جمال مشاهده :

د عرفان او تصوف په اساس كي د قدرت د جمال ننداره گڼه ده، عارف د دنيا مختلف مناظر گوري، او د هر يوه څخه د عرفان او تحقيق برخه ټولوي، په قرآن عظيم كي چي ډېر ځايونه د قدرت د آثارو د مشاهدې ارشاد سوی دی، د ارشاد د هدايت سټه ده، (وفی الارض آيات للموقنين و فی انفسكم افلا تبصرون "الذاريات ۲۰ _ ۲۱").

دا دنيا يوه ښكلې دنيا ده هر شی يو نظام او تناسب لري، عارف چي هر شی ويني د حقيقت نور پكي ځليږي، او د جمال وړانگي ځني غورځي، عارف له مصنوع د صانع د قدرت مشاهده كوي، او له دغي لاري لوړ مراتب مومي، سعدي وايي :-

برگ درخـــتان سبز در نظر هوشيار
هر ورقش دفتريست معرفت كردگار

دا مسئله په تصوف كي دومره عامه ده، چي هر څوك په يو راز تعبير په كوي :-

(c) ketabton.com: The Digital Library



زنده در عـــــالم تصویر همین نقاش است
خواب غفلت همه را برده و بیدار یکی است

دا هغه مقام دی چي "الله نورالسموات والارض" کي ذکر دی، صوفي د دغه نور په ننداره کي دومره محوه کيږي چي پای يې حيرت دی، ابن فارض مصري وايي : "زدني بفرط الحب فيك تحيراً" !

خوشحالخان په دغه موضوع کي ډېر دمخه دی، دی لکه صوفيه انسان عالم کبير بولي، او د انسان له پاره د ځان پېژندنه د معبود معرفت ګڼي،او په "من عرفه نفسهُ فقد عرف ربهُ" قايل دی، د کتاب په لومړی بدله کي وګوری، خان د انسان د بدن عجائب يو يو ښيي، وروسته نو د معرفت فلسفه او د خپل تصوف سته پر ټينګوي او وايي :-

هر وېښــته چي په صورت باندي ليده سي
که پر خير سي د شناخت ور به درته واز کا
خـــــــاص بنده د خدای هغه ګڼه خوشحاله
چي د ځـــــــــان په معرفت يې سرفراز کا

خوشحال خان د معرفت په دنيا کي بېله دغو ظاهري حواسو، چي د مادي خواص دي، يو بېل روح او بېل باطني حواس هم مني، چي هغه نو د معرفت وړ بولي، چي په هغو سره حقايق درك کيږي :-

عارفان د سر په سترګو ګوتي کېږدي
د خپل زړه په سترګو ګوري تماشا کي

دا دنيا د ننداري ميدان دی، او له هري خوا د معرفت انوار اوري :-

په هر لـــــــوري نوبهار دی غوړېدلی
سترګي وخوره جي به دا ننداره نه کا

خوشحال د مصنوعي له ليدو څخه د صانع قدرت مني، او په دې ډول استدلال کوي :-

که دي سترګي د عرفان سته مبارك سه
د ګلـــــــــزار په ننداره چي استقلال کړي
ګل ته هسي رنګ و بوی ورکـړی چا دی؟
د لاله د ګل چــــــــا هسي پاڼي لال کړي

د جمال په ننداره کي سړی حيرت ته ځي، او په پای کي له هر شي څخه د معرفت برخه اخلي.

په و تورو خاورو هسي حسن ورکا
زه حيران پاتو په صنع د خالق يم

خان په دنيا کي تر مادي قوت روحاني واك مهم ګڼي، او دا د تصوف فلسفه په داسي ژبه وايي :-

د صورت په زور قوت، غر نه ماتيږي
که خبر يې د کـــــــوهکن په زور قوت

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي د روح قــوت پيدا سي قمر شق کا
پر هر لــوري يې په مخ درومي نصرت

په دې بيتو کي د خان د تصوف افکار ښه ځرگند دي :-

راسه وغــــــــــړوه سترگي
د جهان ننداره گــــــــوره
چي ښايست لري په ستوريو
د آسمان ننداره گــــــــوره
د دې خپل وجود په باغ کي
په هر شان ننداره گــــــوره
چي هر گل وته نظر کــــړې
د باغوان ننداره گــــــوره

وحدت :

وحدت د تصوف روح دی، صوفي لومړی د نفس تزکيه او تصفيه کوي وروسته نو له ماسوی الله څخه ځان ژغوري، په هره اندازه چي د ده دغه عزلت او ليري والی له ماسوی الله څخه ډيريږي، هغومره د وحدت خوا ته نژدې کيږي، څو په پای کي په ټوله کائناتو کي ببله يوه (واحد) بل څه نهويني، چي د نورو فنا راغله، نو د حق وجود پاته سي و بس. دا مقام په تصوف کي ډېر لوړ دی، صوفيان پکي ورك دي. منصور بن حلاج په دغه لار کي ځان بايلو، اوحدي کرماني وايي :-

پس باش يقين که نيست والله
موجود حقيق ســــــوی الله

د وحدت مسئله په تصوف کي لومړی د شهود په ډول وه، وروسته د وحدت الوجود په ډول سوه ، په دې بيت کي دا دواړه ډوله خلص تعبير سوي دي :-

هر چيز که نشان هســــتی دارد
يا پرتو روی اوست يا اوست ببين

خوشحال خان هم د تصوف د دغو خوږو څخه برخه لري، د هغه وخت چي حقيقي جمال په هره خوا کي ويني وايي :-

که مسجد گـــورې کــــه دير
واړه يو دی نسته غـــــــير
يو مي بيا موند په هــر څه کي
چي مي وکــــــړ د زړه سير
هغه ځای په ســــــير گرځم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي ترې نه رســـــــــــيږي غير
په احـول بانـــــــدي يو دوه سي
ځـــــــکه نسته باندي خـــــــير
خوشحال يو ويني خوشحال دی
ورته ورك دی غـــــــير و زيـــر

د دنيا د پوهانو جدال، د فلاسفه و قيل و قال د حقيقت په لار کي ډير دي، ماديون يوې خواته ځغلي، عقليون بله لار اخلي، خوشحال خان دغه اختلاف د ناپوهی له پوله ګڼي او وايي :-

خلق ناديده دي په خبرو پسي ځــــغلي
جار تر عارفانو چي په حال دي پوهېدلي
دواويا مذهبه پکي هونبره قال و قــــيل
واړه سر هوا پخپل مطلب پسي دي تللي
واړه نور د لمر دی هم دننه هم دبانــدي
هر چرته دا نور دی پر هر ښهر په هر کلي

په دې بيتو کي خوشحال خان د شېرازي حافظ هغه مشکل حل کړی دي چي دو اويا مذهبه يې ورك کړي :-

جنګ هفتاد و دو ملت همه را عذر بنه
چون نديدند حقيقت ره افسانه زدنـد

دا حقيقت چي حافظ يې ستايي، هغه حقيقت دی چي خوشحال خان يې بيانوي (واړه نور د لمر الخ) د عارفانو د عرفان پای دغه دی چي خان ويلي دي :-

يار مي هسي رنګ ځائي وکړه په سترګو
چي و هر لوري ته ګــــــورم واړه دی دی

دا دی د رياضت او تصوف او مجاهدې او سير آخر، چي يوه بل عارف هم ويلي دي :-

در هر چه بنگرم تو پـــديدار بودهٔ
ای نانموده رخ تو چه بسيار بودهٔ

فنا :

فنا د تصوف مهم مقام او د سنګړو ډکه لار ده، څو انسان دا لار پرې نه کي د وحدت مقام ته نه سي رسېدای. شېخ عطار قدس سرهُ وايي : (التوحيد اسقاط الاضافات) ، صوفيان د ځان فناعين فنا بولي، او د (موتوا قبل ان تموتوا) مطلب هم دغه ګڼي ، فنا په مجاهده سره مونده کيږي او ډېر زيار غواړي، چي انسان تر خپلو ټولو طبيعي خواهشو تېر سي، خوشحال خان دا د تصوف مقام داسي ښيي :-

همېشه که ژوندون غواړې درته وايم
همېشه کوه د نفس سره جــــــهاد !

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان د وحدت د لاري سلوك تر هغو نه مني څو سړی نفی د ماسوی الله ونه كي :-

بيا ها له يګانګي له حاله لاف كـړه
كه د غير اندېښني له زړه خرج كړې

بل ځای دا مجرا په دې ډول ځرګندوي :-

كه دا خپل صورت دي نيست په عشق كي نن كړی ای خوشحاله
بيا دي ځان د هستی لاف كړه وايه زه هم هســـت د ده يم

مړينه او ژوندون :

لكه چي نور انسانان مرګ ته د بيري په سترګه ګوري، بالعكس متصوفين بل نظر ورته لري، دوی مړينه عين ژوندون ګڼي، او وايي چي د انسان روح د عالم قدس سره كار لري چي بدن مړ سي، نو روح خپل مركز ته صعود كوي، مولانای روم په مثنوي شريف كي دغه مسئله ښه اوڅاروي:-

اين بقاها از فنـــاها يافـتی
از فنا پس رو چرا برتافــتی
در فناها اين بقاها ديـــــده
بربقای جسم چون چسپيده

صوفيه تل د مړيني په ارمان ژاړي او خپل مركز ته ارتقا غواړي :-

بشنو از نی چون حكايت ميكند
وزجدائی ها شــــكايت ميكند
كز نيستان تامـــــرا ببريده اند
از نفيرم مرد و زن نالـــيده اند

خوشحال خان هم لكه پاخه صوفيان د انسان مرګ وصول د څاڅكي و يم ته بولي، او وايي :-

په څه شان راغلم په څه شان درومم
قطره چي ببله سي درومي بيا يم ته

ځكه چي په مرګ كي روحاني ارتقا ده، نو مرګ تر ژوندون ښه دی، ولي چي توره اوسپنه د هنداري په څېر رونوي.

چار د مرګوتي معايـــــــنه ده
ښه تر ژوندونه هر آئــــــينه ده
پښ تېشه ماته كا آئينه سازه كا
چي تر تېشه نه ښه آئــــينه ده

خپلوي او مينه :

تصوف د خپلوۍ او ميني دنيا ده د صوفي په نظر كي دنيا د قدرت د جمال مظهر ده، نو چي دی د حقيقت په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګو وګوري، هر ځای د هغه جمال تجليات او انوار ويني :-

چشمی داری و عالم در نظر است

ديگر چه معلم و کــــــــتابت بايد

نو ځکه د صوفي په نظر کي دنيا ټوله محبوبه ده، د هيچا سره دښمني نه لري ، حافظ په دغه مرغ د کونينو سره په روغه کي دی :-

زيمن عشق بکونين صــــــلح کل کردم

تو خصم باش و زما دوستی تماشا کن

خوشحال خان چي دې مقام ته راسي نو وايي :-

له دو اويا مذهبه سره به ســـــــاز وکړي له دله

خوشحال که خبر سي په تحقــيق د عشق د کېشه

خوشحال خان له دغه متصوفانه فکره يو اجتماعي فکر هم مومي، او د بشر پر ګندو او د انسانانو پر ډول ډول اختلافاتو افسوس کوي، او

وايي :-

يو يې اصل سره دوه اويا مذهبه

خدايه څه بنی آدم فريق فريق سه

اخلاق :

د تصوف ستړه اخلاق دی، تزکيه د نفس او سموالی د اخلاقو خو و صوفي ته لومړۍ وظيفه ده، خوشحال خان خو د اخلاقو و سمون ته ډېر اهميت ورکوي، د ده کلام اکثر اخلاق دي، رضا، قناعت، صبر، خاکساري، درويشي، انزوا، د وګړو چوپړ، په ورين تندي ژوندون، پټه خوله والی، تحمل او نور ټوله ښه اخلاق ده په خپل کلام کي ستايلي او توصيه يې په کړې ده، چي تاسي بې په مطالعه کي د کتاب ووينی.

پښتون خوشحال خان:-

هر ملت ځانته ځيني خواص او مزايا لري، چي هغه نو مايه د افتخار د ده وي، د هر ملت پسيکولوژي (روحيات) بېل دي او اخلاق او دودونه يې له نورو څخه جلا دي. چي په هغو سره پېژندل کيږي او په هغو اخلاقو سره لوړيږي، يا کښته کيږي !

د علم الروح پوهان خو دغه اخلاق او مزايا او ملي خواص د ملتو د ژوندون ستړه ګڼي او وايي چي هيڅ ملت بېله خپلو ښېګڼو ژوندی نه پاتيږي:-

انما الامم الاخلاق ما بقيت

فـــان ذهبت اخلاقهم ذهبوا

پښتون خو يو اصيل ملت دی او هر کله پخپلو ملي ښېګڼو ژوندی دی، د پښتون ملت او ملي خواص ټوله پښتنواله

(c) ketabton.com: The Digital Library



بولي، او په پښتنو کي پښتنواله مخصوص اصول او قوانين لري، د پښتو لار د پښتنو زوړ اجتماعي ميرات دی، پخوانو پښتنو ټولو تر دغو اصولو لاندي ژوندون کاوه، خوشحال خان خو د پښتنو اديب دی، نو د ده کلام هم له پښتنوالي ډک دی، د پښتو او پښتنوالي خواص او مزايا خورا ډېر دي، چي جلا کتاب غواړي، مگر موږ دلته د خوشحال خان د وينا د پښتنوالي خوا ښکاره کوو:-

(۱) پښتون خو فطرتاً په اخلاقو او اجتماع کي عاجز دی، او بې ځايه کبر نه لري، مگر دا تر هغه وخت چي څوک د ده پر حقوقو تجاوز ونه کي، د پښتنوالي حکم دا دی، چي پښتون پر ځان باندي د بل تعرض نه سي منلای، خوشحال خان دا د پښتو لار داسي ښيي :-

که په تـــوره يې جواب ورکړې مردي ده
چي وجود دي څوک آزار کاندي په چوب

(۲) په گرانو چارو او مشکلاتو کي ټينگار او ثبات د پښتنوالي لوی رکن دی، پښتون سر بايلي مگر ميدا نه پرېږدي، خوشحال خان پخپله هم د دې ميدان زمری دی، ده اويا کاله په پښتنواله د ډېرو ناورينو سره د زمري په څېر مقابله کړې ده، دی وايي :-

پر جـــهان د ننگيالي دي دا دوه کاره
يا به وخوري ککرۍ يا به کامران سي

دی دومره پر ځان ويسا او اعتماد لري، چي فقط ځان د ټولو مصائبو په مخ کي کافي گڼي :-

د مـــــــــزريو مړنتوب په لښکر نه وي
مټ يې هر کله يوازي په خپل ځان سي

دی د مقصد په لار کي تر دې حده د زيار طرفدار دی :-

تر مطلوبه پوري شرط د رسېدو دی
که تـــــــامه لار په وينو سي آلوده

پښتون د هر راز مشکل په مقابل کي نه ښايي چي د همت لار پرېږدي:-

که اسمان دي د مزري په خوله کي ورکا
د مزري په خـوله کي مه پرېږده هـــــمت

خوشحال خان د مغلو په مقابله ډېر ټينگار وکړ، په پای کي چي د هغو په لاس کېووت، هم د ده د پښتنوالي غرور او د نفس لوړتيا د هغو مظالمو نکړه ور ماته، بلکي له بنديخانې څخه د مغلو هم خپلو زامنو ته ډاډ ورکوي، د ده حماسي افکار دلته ښه څرگندېږي چي تاسي دا منظوم مکتوب ولولی:-

په مردن پـــــــــروادار نه يم
په زندان پروادار څــــــــه يم
اشرفخان دي راته کښـــــلي
څه خو خوښ په خط د ده يم
پنځه مياشتي يم په بند کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابا ډېر ډاډه پــــــــه زړه يم
زويه ما خو غم د تا كـــــــــړ
چي ته ښه يې زه خو ښــه يم
چي فلك سره ســــــــر باسي
په همت كي هــــــــغه زه يم

دا مكتوب په بند كي خان د خپل زوى اشرفخان په جواب كي ليكلى دى، خوشحال خان هغه زړه چي د مشكلاتو په مخ كي ولوېږي، د سره زړه نه بولي :-

واړه زړونه فراغت وي په ښادي كي
چي په غم كي مردانه سي زړه هغه

(۳) رشتيا :-

په پښتنواله كي رشتا ډېر اهميت لري، درواغجن ته پښتون نه ويل كيږي، خوشحال خان د رشتا په لار كي و هر راز تاوان ته ولاړ دى، كه څه هم په رشتيا كي خلك د ده سره ميرځي كوي، مگر دى تر رشتيا نه تېرېږي :-

چي ځوان وم دا يم زوړ سوم په رشتيا رشتيا خبرو
عالم د ځان دښمن كړم كه دا عيب دى هم دي وي

خان د درواغجن خوله اصلاً خوله نه بولي، د ده په مذهب او د پښتنوالي له پلوه خوله هغه ده چي رشتيا وايي :-

چي دروغ تر خوله وباسي كله خوله ده
چي رشتيا تر خوله وباسي خوله هغه

(٤) ننگيالي توب او مېړانه :

ننگ او مېړانه هغه شيان دي چي د پښتنوالي ولي پكي ولاړي دي، كه دغه نه وي پښتنواله هم قطعاً نسته، پښتون د ننگي پر لار، سر وركوي اما بې ننگي نه سي منلاى:-

په تور توپك ويشتلى راسې
د بې ننگۍ احوال دي مه راځه مينه

د پښتنوالي دا مزيت او د پښتنو دا خاصه هغه ملي مميزه ده چي د دوى ثانوي طبيعت گرزېدلى دى، د پښتون ژوندون چي په ننگه او پښتو او مېړانه، نه و، داسي ژوندون ژوندون نه بولي :

ورځه ورځه تر دكن تېر سه
د بې ننگانو تر ژوندون ښه دي مرگونه

خوشحال هم د ننگي د لاري لېونى دى، د ده كلام د پښتنوالي دا خاصيت په ښه ډول تشريح كوي، دى د پښتو د مېړاني حقيقى معرف دى، لكه چي وايي :-

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننگيالي د ننـــــگ له پاره
په هر څه لـــــــــګوي اور
سر په باد د ســـــړي پرېوزه
چي يې نه وي ژوندون نور
چي په نام و ننګ اړ نه وي
که تل ژوي مـــــخ يې نور
سر په دار لك سوی ښه دی
نه لك ســـــــوی پر پېغور

د ننګ سره دا تړلې ده چي د سړي همت به لوړ وي، او طمع به نه لري، خوشحال خان هم د پښتنوالي د ننګ په دنيا کي ډېر مستغني دی، د ده په نظر خپله غړکه تر سلطنت هم ښه ده :-

چي سړې شنوبې يې څښم په وخت د اوړي
بادشاهي د اورنـــــــــــــګزېب زما غړکه

خوشحال خان د پښتنوالي د زاړه عظمت او په هند کي د لودينانو او سوري پښتنو د شاهنشاهۍ په ياد هر وخت د حسرت اوښکي تويوي، او پښتنو ته د خپلو ورکو اخلاقو او ښېګڼو توصيه کوي :-

د بهلول او د شېرشــــــاه خــــبري اورم
چي په هند کي پښتانه وو بـــــــادشاهان
شپږ اوه پېړۍ يې هسي پـــــــادشاهي وه
چي په دوی پوري درست خلـك وه حيران
يا هغه پښتانه نور وه دا څــــــه نور سول
يا د خدای دی اوس دا هسي شان فرمان

پت په پښتو کي يوه جامعه کلمه ده، چي لو لمن لري، پښتون پر خپل پت سر ورکوي، خان وايي :-

سر دي درومي مال دي درومي پت دي نه ځي
د سړي د چاري کل خـــــــــــوبي په پت ده

يا :

چي د ننګ په چارو نر نه دی خوشحاله
که يې نر ويني په سترګو هـــم ماده ده

يو وخت د خان زوی چي نظام يې نوم و، مړ سو، خان د ده مرثيه په (٦٠٢) مخ کي ويلې ده، اما ډېر افسوس کوي چي دا ځلمی کشکي د ننګ په لار کي مړ وای، ولي چي د تلتك مرګ د پښتانه له پاره پېغور دی:-

کشکي ځوان د پښتانه په ننګ کي مړ وای
نه چي ګور لره روان ســـــــــو له تلتکه
چي د قــــام په ننګ کي ومــــړ هـــــغه زويه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عالم کي د خـــــپل پلار غاړه کا لـــکه

نو په پښتنواله کي هغه مرګ چي د ننګي په لاره کي وي ډېر ښه دی.

خوشحال خان دنيا او ژوندونه ټوله ننګ ګڼي، که پت نه وي ژوندون هم نسته، او د پته سره ژوندون که څه هم خوار وي، مګر ساری د پاچهۍ دی :-

جهان شرم نام و ننــــــګ دی
که دا نه وي جـــــهان ړنګ دی
چي خوشحال باندي ناستي کا
دا پـــــــوزی نه دی اورنګ دی

(٥) بدائي او تمول :

په پښتنواله کي بډايي او تمول خاص د دغه له پاره ده چي نور استفاده ځني وکي، بخل او کسکی په پښتو کي نسته، پښتون د ماله سره له دې پلوه مينه لري چي په نورو يې وخوري، خان خو هم اباً عنجد سخي او غني سړی و، ده د خدای کوټه مال ټوله د سخا په لار کي صرف کړی دی، دی وايي :-

چي ګټل خوړل بخښل کا ځوان هــغه
چي توره لري د توري خان هـــــــــغه
چي يې ته په ګېډه وخورې حبطه سي
د مجلس سره چي خوړ سي خوان هغه

د خان په نظر کي بډای هغه څوك دی، چي د ده د ثروت ګټه نور اخلي:-

دولتمن سړی هـــــــــــغه بللی بويه
چي له سينده يې جدا د چا واله سي

خوشحال خان وايي چي زه د زرو دښمن يم، او يو ګړی يې نه پرېږدم، ننګيالی سړی خو خپل دښمن د ځان تر مخه کوي، نو ځکه زر زما له لاسه تښتي :-

زه او زر ســــــره له ځايه غليـــمان يـــو
په جـــــــهان کي غليمان سره رغـــــيږي؟
چي غليم د مړني په نظر کــــــــــــېوزي
نور يې زړه د ده و مرګ ته پرکــــــــيږي
شاه زلمی به خپل غليم کا تر ځان وړاندي
و نامرد و ته به سل حــــــــــيلې دريږي

... الخ ... ص ٤٧٨

دا وه ځيني خلص مواد چي موږ د پښتون خوشحال خان تر عنوان لاندي راوړه، ځکه چي دا مضمون ارته لمن لري، نو مو د اختصار په سبب لنډ کی، البته پخپله ويونکي به هم د خان په کلام کي د پښتنوالي ډېر مزايا مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



توريالی او جنگيالی خوشحال خان :-

خوشحال خان محض ويونکی او يوازې شاعر نه دی، بلکې د ده د قول سره عمل او د ګاې سره کړن ملګری دی، نو لکه دی چې په ويلو او شاعرې او ادب کې، پلار او مشر ګڼل کيږي، دغسې هم په حرب او توره کې سردار دی، توريالې توب د پښتنو په خټه اخښلی دی، پښتون چې توريالې نه و، پښتون نه دی. پښتون د وسلې او تورې سره ډېره مينه لري، معشوقه هم د عاشق په توريالې توب نازيږي :-

تورې به نه کړې نو به څه کړې

چې دې شيدې د پښتنې رودلې دينه

پښتنه مينه د بې زړه او بې تورې مين عشق پېغور ګڼي :-

له سپيني تورې نه دې ترپلود

پر بېګنی در کړې خوله پښېمانه يمه

خوشحال خان خو حقيقې پښتون دی، نو ځکه توريالی دی، او دی د خپل عصر يو نامور عسکرې قايد ګڼل کيږي، هغه جنګونه چې ده

د مغولو د شاهشاهی د لښکرو سره ګړې دې، مشهور دې، د ده

حربې او جنګې احساسات خورا تاوده او آتشين دې، او د عمر ډېره برخه يې په جنګو کې تېره سوې ده، او په اکثرو جنګو کې يې ټپونه اخيستې دې.

د خان کلام جنګې او حربې برخې لري، او د توريالې توب په ستاينه کې داسې ويناوې لري چې د پښتنوالې ترجمانې يې کوي :-

کل ګټنه ده د تـــــورې

که کابل دی که کشمير

مېړني دې چې يادېږي

په ســــــندرو هم په وير

خان د حرب علمې روح لري، او هر ځای پخپله د خپل لښکر سره يو ځای په جنګ کې درېږي :-

د تورو په ميدان کې چې سودا وي د سرونو

هغه زمان مې ګوره تل به سور وي زما آس

خوشحال خان د جنګ په ميدان کې د تورې له پرهاره خوند اخلې، او دغه د مېړانې محك ګڼي :-

کله مېړني دې چې د تورې په ميدان کې

دی د تېرې تورې په پرهار نه وي محفوظ

يا :-

چې څرګنده سربازې کــــاندې د تورو

زه خوشحال خټك تر هسې هنر جار سم

(c) ketabton.com: The Digital Library



توريالی سړی هغه دی، چي د جنګ خوږي خبري او ساعت يې پر تريخ نه وي، بلكي د جنګ له ميدانه خوند اخلي، د خان د خوښۍ وخت خو هم د جګړي وخت دی :-

د خوشحال خټك خوښي په هغه وخت ده
چي بريښنا وسي د تـــــــورو او د غرو

خوشحال خان خپله ازلي برخه د توري ګڼي، او په دغه برخه ډېر خوښ دی :-

بله بخره به په زور له چـــــا وانخلي
د خوشحال بخره چي توره ده له ځايه

د پښتون زوی چي وزوكيږي، كلی او كور او قام ټوله په خوښ وي، په كلي كي د يوه مېړه د زيات توب د زيري ناري وسي، ټوله په دې خوښ وي، چي يو د توري مېړه مو زيات سو، دا ملي خصيصه د پښتنو پر توريالیتوب ښه دلالت كوي خوشحال خان دا ملي روح په دې بيت كي ښه ښيي :-

يا د ښو زويو ســـــــندري دي د زوو
يا د توري په ميدان كي هوی های دی

د توريالي ملت په ملي اشعارو كي د دوی د حماسته احساسات او افكار ښكاره وي، د عربو اشعار دغه مزيت ډېر لري، شاعران يې خپل توريالیتوب ستايي (السيف والخيل والبيداء يعرفنی)، د پښتون شاعر خوشحال خان حماسي افكار هم د ده په وينا كي ځرګنديږي، لكه چي وايي:-

لا په خوب كي په لـــــړزه پرېوزي له كټه
چي د چا تر غوږ زما د توري شرنګ سي

يا :-

په هغه هنر كي ټينګ اوسه خوشحاله
هر هنر چي ســـــپاهي لري په زړه كي

يا :-

د افغان په ننـــــګ مي وتړله توره
ننګيالی د زماني خوشحال خټك يم

د پښتنو په نظر كي تر دغه لوړه د پېغور خبره نسته، چي سړی له جنګه تښتې او مردك پر شا وخوري :-

هغه هيڅ مــــــېړنی نه دی
چي به توره په قفا خوري

توره او د جنګ قوه خو په هر وخت كي ښه ده، او ډېر عزت او اعتبار لري ، بشريت د دې قوې تابع دی، يو عرب شاعر وايي :-

السيفُ اصـــــدق انباء من الكتب
فی حده الحد بين الجد و اللعب

خوشحال خان هم د توري د اقتدار ستاينه داسي كوي :-

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي په توره ترکـــــــتازي کا
هغه هر کله کامــــــــګار دي
چي يې زړه نه وي د تـــــوري
هغه زړونه څه په کـــــــار دي
مور دي نه سي بانــــدي بوره
چي مېږونه د کــــــار زار دي
څوك چي سته تر شرقه غربه
د تورزنو خـــــــــدمتګار دي

په بل ځای کي خوشحال خان خپل زوی ته داسي نصيحت کوي :-

که دي نقش د توري کښني راته غــــوږ کړه
کامروا به سې هالــــــــــــه له خپله کامه
ښه ځوانان به خپل هوډ پرېښږدې لـــــه لاسه
که يې سر سي د خــــوني مزري تــــر زامه
که تل توري غشي خوري ماتي د جنګ وړي
مرد به سوړ نه سي په زړه له انتـــــــــقامه

په دې رباعي کي خان د پښتنوالي جنګي روح ښه ښکاره کړی دی:-

زويه ورور مه سه چي ځـوانمرد نه وي
مرد د ټيکلي مـــــــــرد د نبرد نه وي
مېړه يې مه بوله ښځه پرې نوم کېږده
چي د جنګ غشی ورباندي ورد نه وي

چي مين پر وســــــــله نه وي
مرد دي نه وايي خـپل ځان ته
لاس دي سره کا سترګي توري
ځان دي وجوړوي ځـــــوان ته

خوشحال خان علاوه پر نورو جنګو تر خپل بند وروسته چي وطن ته راغی د عمر تر پايه يې د مغولو د لښکرو سره سخت سخت جنګونه وکړه او تر پايه د پښتانه په څېر د مغولو سره د خپلي آزادۍ له پاره وجنګېدی، او لوی لوی جنګونه د ده په قيادت وسوه، چي دی يې په خپله په يوه قصيده کي چي په ١٠٨٦ هـ کي يې په برمول کي ويلې ده، داسي شمېري : د تهتر په جګړه کي ده د مغولو[٣٩] زره عسکر قتل او تاراج کی، د ميرحسيني، د نوښار، د ګنداب، د خاپس جنګونه يې مشهور دي، تفصيل يې په ٥٩٢، ٥٩٣ مخو کي وګورئ. د دې حماسي قصيدې په پای کي خپل حربي احساسات داسي ښکاره کوي :-

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساقي راسه ډکي ډکي پيالې راكــــړه
چي د ميو په مستي کي سم ســـرشار
پښتنو زلميو بيا لاسونه ســــــره کړه
لکه باز منګ لي سرې کا په خپل ښکار
سپيني توري يې ګلګوني کړې په وينو
په اهاړ کي شګفته ســــــو لاله زار

خوشحال خان په حيث د يوه جنګي قايد، د مغولو پر لښکر باندي سخت يرغالونه کړي او خپل جنګي د پښتنوالي روح يې غليمانو ته څرګند کړي دي :-

تر اورنګ پاچا مي ويوست
تاو د بند او د زنــــــــدان
نقش مي کېناوه د تــــوري
په هندو په مســــــــلمان

د ده نور حماسيات او عسکري افکار او جنګي کارنامې به د ده په کلام کي خاص بيا د قصايدو په برخه کي وګورو.

رند خوشحال خان:-

په مشرقي شاعري کي رندانه اشعار او فکاهي مضامين خورا ډېر دي، دا ګويا د مشرقي شاعرۍ يو ټوك دی، په پارسي کي له زړو اديبانو څخه تر متأخرينو پوري اکثر داسي اشعار لري، چي کله کله تر رندۍ هم اوړي. د انوري اشعار په قدماوو کي د قاآني او جلال الملك او نورو فكاهي شعرونه ډېر دي.

په حقيقت کي خو شاعري د طبيعت ترجماني ده، شاعر قلبي واردات په الفاظو سره منظوم كوي، نو انسان خو مختلف احوالونه او اوضاع لري، البته په هر حال کي چي شعر ويلی سوی وي، د هغه حال تصوير دی، سعدي د انسان حال ښه بيانوي :

گــــــهی برطارم اعلی نشينم
گهی بر پشت پای خود نه بينم

د خوشحال خان په کلام کي هم رندانه او فکاهي مضامين ډېر دي، ممکنه ده چي ځيني خلك به يې دغسي اشعار خوښ نه كي، مګر موږ د دې له پاره دغه اشعار د ده له كلياته نه دي ايستلي چي يوه مكمله نسخه منځته راسي.

ځکه چي د ده اشعار هره خوا لري، نو البته هر څوك به پر "خذماصفا ودع ما کدر" کتنه پکي وکي، اما كه څوك دغسي اشعارو ته د عيب په نظر وګوري، نو به دا ادبي سهوه وي، ولي چي د هيڅ اديب کلام له دغسي شعرو څخه خالي نه دی، كه چا د مثنوي شريف قصې او د انوري، سعدي حتی د بيدل هزليات ليدلي وي نو به زموږ خوشحالخان هم نه پړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وطني خوشحال خان :-

د وطن مينه او د خپلي خاوري محبت لکه چي د انسان په خټه کي سته، پښتانه خو په خاص ځېر د وطن سره مينه لري، دوی متل کړی دی چي : " هر چاته خپل وطن کشمير دی".

خوشحال خان هم د خپله غره سره ډېره مينه لري د ده عمر د وطن د خاوري په ساتنه کي تېر سوی دی او ځان يې پر دغه خاوره وژلی دی. خوشحال خان ډېر وختونه د خپلي خوږي مېني په بېلتون ليري په هند کي تېر کړي او د وطن غوښتو په تور د وطن د غرو او ونو او گلستان  په ارمان خورا د وير نارې وهي ، د ده زړه د وطن د مېني خوږمن دی، د بېلتانه سندري او کوکاري ځني خيژي :-

کـــه يو ځله مي رسيد وسي تر سينده
نور دي مه وينم په تورو سترگو هنده
نه به سترگي د سړي په ما خوږې سي
نـــه يې مـــــاته په اوبو سي د چا تنده

خوشحال خان بېله خپله وطنه پر هيڅ ځای کي نه خوښيږي :-

د خوشحال د زړه خوښي نه سي بې سرايه
خپل وطن يې پر هــر چا باندي کشمير کړ

خوشحا لخان د هند له بنديخانې څخه خپل وطن ته داسي سلامونه او د زړه احترامات استوي :-

که گذر پر خيرآباد وکـــــــــــــړې نسيمه !
يا دي گښت وسي د سرای د سيند پر سيمه
په وار وار سلام ځـــــــــــما ورته عرضه کړه
ورسره ځما د لــــــــــــــــوريه څو تسليمه

... الخ ص ۲۳۷

خوشحال خان له بنديخانې څخه خپل د زړه اور او د بېلتون نارې او غلبلې تل وطن ته را استوي، او خپلي اوښکي د وطن په ياد بهوي :-

د ښو اوښي مي ويني سي ترې څـــاڅي
دا د تن جامه مي نه وي د اغــــــــوستو
دا غزل چي د خوشحال ورسي تر سرايه
ښه ياران به يې نارې وکا په لــــــوستو

وطن خو گران دی ولي چي هلته سړی زوکړی وي او د هغه ځای په اوبو او هوا لوی سوی وي، خاص بيا هغه وخت ډېر گران دی چي د سړي خواږه خپلوان او اشنايان هلته وي، يو عرب شاعر دا وطني فلسفه داسي ښيي :-

و من مذهبي حُب الديار لاهلها
وللناس فی ما يعشقون مذاهب

خوشحال خان هم دغه فلسفه په ښه ډول څرگندوي :-

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي پکي خــــواړه یــاران دي
پېښور تر هر دیار ښـــــــــه
ښه په هند کي چـــــنباګل دی
تر دا ګل د وطـــــــــن خار ښه
د سرای قدر نور چـــــا نه زده
په خوشحال دی تر فرخار ښه

خوشحال خان په هند کي اوسي، د دې ځای حیات د ده په نظر کي یو دوزخ دی، د وطن په یاد داسي ژاړي :-

نور جهان سقر سو باندي سرای دارالقرار دی
کله به خوشحال دارالـــــــقرار لره وردرومي

د خوشحال خان وطن د پښتونخوا یو سپېره غر دی که څه هم دا ځای نور څوك نه خوښوي، مګر د ده په نظر کي داسي قدر لري :-

د وطن وني چندڼ اګـــــــــر دي
خاوري يې واړه مښکو عنبر دي
که سرای و نورو وته سنـــګر دی
کاڼي يې واړه ماته ســـره زر دي

خوشحال خان د مغولو د لښکرو او جګړو څخه په وطن کي ډېر په تنګ دی، د هغو د جهانګیرئ حرص دا سپېڅلی پښتون په خپل غره کي هم نه پرېږدي، مګر دی د وطن حب دومره لري چي هیڅکله خپله خاوره غلیمانو ته نه سي پرېښوولای:-

درزی لا ګرز لري غچي ســـوزن لري
یو جمدر ګوټی خوشحال خـیرن لري
کوچ يې آسان دی مشکل هیڅ نه دی
غم د یارانو درد د وطـــــــن لـــــري

په دې ډول خوشحال خان یو حقیقي وطن دوست او پر مېنه مین پښتون دی :-

پښتني جوني دي زلفي باد ته نیـــــــسي
چي شمال يې بوی راوړي په رنتبور کي

سیاح خوشحال خان :-

خوشحال خان یو سیاح او جهاندیده سړی دی، دی په ټوله هند کي ګرځېدلی او د مشرق په ډېرو ځایو کي يې سیاحت کړی دی، د ده تجربه او توریالیتوب او ادبي اقتدار هم په دغه سبب ډېر دی، پخپله وایي :-

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم ملك دی له ما پاته چي مـــــي پل نه دی پر ايښی
هر ځای به ورته ياد کړم که ځوك سته سياحت کړونی

د ده اشعار اکثر په نورو ځايونو کي ويل سوي دي، چي دا نو د ده جهانگردي راښيي، مثلاً په (١٠٨٠ هـ) کال چي دی په کابل کي و، يوه بدله يې ويلې ده، چي په (١٣٧) مخ کي سته، هلته وايي :-

پوره زر اتيا کلونه په کـــــــابل کي
دا غزل مي پر بياض باندي تحرير کړ

په دغه ډول خان يو جهانديده او سياح سړی دی.

موْلف او ليکونکی خوشحال خان :-

خوشحال خان که څه هم د عمر ډېره برخه په جګړو او کشمکش کي تېره کړېده، او د توري د ميدان بريالی او نامتو قايد دی، دغسي هم په علم او ادب کي ښه نوم لري، دی د پښتو ژبي پلار ګڼل کيږي، او ډېر کتابونه يې ليکلي دي، د ده کليات او اشعار تر (٤٠) زرو بيتو پوري رسيږي او نور ډېر تاليفونه لري، چي اوس متاسفانه ورك دي. د اروپا مستشرقين تر سل جلدو پوري د ده تأليفات ګڼي او مسټر راورټي يې تأليفونه (٢٥٠) بولي[٤٠].

خوشحال خان د پښتنو تاريخ ليکلی او پارسي انوار سهيلي يې په پښتو د عياردانش په نوم ترجمه کړی دی، او يو جلد کوچنی کتاب يې متفرق ديني مضامين ليکلي دي[٤١].

خوشحال خان د يادداښتو کتاب هم لري، چي افضل خان د ده لمسی په تاريخ مرصع کي حواله ورکوي[٤٢].

دغسي هم ده فضل نامه (د توري او قلم پر نزاع) ليکلې ده، او فرخنامه او رياض الحقيقت هم د ده تاليفونه دي، چي اوس بالکل کميافت دي[٤٣]. نور د ده کتابونه او تأليفونه دا دي :

باز نامه : چي د باز او د ښکار بحث دی.
هدايه : له عربي څخه پښتو سوې ده.
آئينه : مذهبي ابحاث دي، له عربي څخه په پښتو.
دستورنامه : د بګړۍ په باب کي ده.
صحت البدن : حفظ الصحه او طب دی.

دغسي هم راورټي انګليسي مستشرق ليکي چي خوشحال خان يو راز مختصر نويسي او رزم نويسي ايجاد کړې وه، چي فقط د ده په کورنۍ پوري مخصوصه وه، بل ځوك نه په پوهېده او نوم يې "زنځيري" و[٤٤].

په دې ډول خان يو زبردست ليکونکی او مؤلف و، افسوس دی چي د ده آثار ورك سوي دي.

د علم او ادب کورنۍ :-

خوشحال خان يوازي د پښتو ادب خادم نه دی، بلکي د ده د ادبي مکتب شاګردان او د ده د کورنۍ افراد هم اکثر فاضل او اديبان پښتانه وه، د ده زامن او لمسيان او نور د کورنۍ سړي ټوله د علم خاوندان او د ادب د ميدان سړي وه، چي د پښتو ژبي و ادب ته يې لوړ لوړ خدمتونه کړي دي، راورټي وايي چي : د دې علمي کورنۍ ښځي هم اديباني

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې، او دېوانونه د شعر لري، د خوشحال خان يوه ښځه چي د اشرف خان هجرې مور وه ، مشهوره شاعره او اديبه پښتنه وه، چي اشعار يې سته. د دې ادبي کورنۍ خدمات او علمي کارنامې ډېري دي، بهرام خان د خان زوی ښه ليکونکی و، پخپله خان وايي :-

عطارد دي نور قلم له لاسه کېږدي
چي په دا خوبي بهرام انشاء املا کا

نور د خان د کورنۍ مشهور ادباء او شعراء دا دي :

(۱) اشرف خان :

هجري يې تخلص او د خان زوی دی، لوی د شعر دېوان لري، چي يوه برخه يې راورټي په گلشن روه کي چاپ کړې ده، او د ده د شعروړنه قريحه ښه ځني څرگندېږي، دی په ۱۰۹۳ هـ کال د مغولو لښکرو په بېجاپور کي د دکن بندي کی، او پسله لسو کالو حبسه هوري د وطن په بېلتون کي مړ سو، دی وايي[٤٥] :-

بې وطنه تنها پروت يم په غـــــربت کي
نن له ما سره همدم د صـــــــــنم غم دی
د هيواد اشنا په سترگو لـــــــيده نه سي
که په خوب راته حاضر سي بس کرم دی
قاصدان له روهه نه راځي مدت ســـــــو
ســـــــــــلام باد رارسوي منت يې تم دی

(۲) عبدالقادر خان :-

د خوشحال خان زوی دی، چي په پښتو کي ښه ويل او لوی دېوان لري، ده د سعدي گلستان په پښتو په نوم د "گلدسته" ترجمه کړی دی، او بحر خفيف کي يې د جامي يوسف و زلېخا هم نظماً ليکلې ده، د دغو کتابو يو څو برخي مسټر راورټي په گلشن روه کي چاپ کړي دي. يوسف و زلېخا يې په (۱۱۱۲ هـ) تمام کړی دی. مسټر راروټي د "پښتو شعر په انتخاب" کي دی د (٦۰) کتابو مؤلف بولي، د آدم خان او درخانۍ کتاب هم ده ليکلی دی. عبدالقادر خان مقتدر اديب دی، چي د خپلي کورنۍ روڼ ستوری گڼل کيږي، دی وايي :

زه ختك د يار په غم تازه ســــــوم
غوريه خېل رحمان که سو ورځني سترې

(۳) صدر خان :

د خان زوی و، تخلص يې صدر دی، دېوان هم لري، د نظامي خسرو او شيرين يې پښتو کړي دي، دی د عشق يو سبق د دنيا او مافيها له پاره کافي گڼي :-

د عشق يو سبق کافي دی
نور د کل جهان دفتر هيڅ

(٤) سکندرخان :

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خوشحال خان زوی دی چي د مهر او مشتري مثنوی يې ليکلی، او د دېوان خاوند دی، دی وايي :-

مغني ګوتي په زېږ ږدي پـــــــــه بم هم
هم ساقي ســــــــــته هم بهار و صنم هم
که ناستي د يار د کوی په خاورو مومي
باغ بهار د سکـــــــــــندر دی ارم هم[٤٦]

(٥) ګوهرخان :

د خوشحال خان زوی او خاوند د دېوان يو ښه اديب دی.

(٦) افضل خان :

د اشرف خان زوی دی چي تاريخ مرصع يې ليکلی دی، بل تأليف يې علم خانه دانش او بل کتاب يې اسم کوفي دی[٤٧].

(٧) کاظم خان :

متخلص په شيدا چي د افضل خان زوی او د خوشحال خان کړوسی دی، شيدا هم د دېوان خاوند او مبتکر اديب دی، چي په (١١٣٥ هـ) کال زېږېدلی او په کشمير او سرهند او رامپور کې عمرونه تېر کړي دي، شيدا خوږ کلام لري، او د هند د محبوبانو ستاينه داسي کوي :-

په هندي اداء يې وکړې په ما چـــاري
زه شيدا په زړه ساده د روه افغان يم

(٨) علي خان :

هم د خوشحال خان له کورنۍ څخه دی، لوی دېوان لري، زبردست شاعر دی، دا بيت له ده دی :-

زه درپسي درست شپه پټ ژاړم لـــکه پرخه
ته سبا خندان لکه ګل واز ګرېوان د چا يې؟

لنډې دا چي له دغي کورنۍ څخه د پښتو زبردست او پياوړي اديبان وتلي، او هغه خدمت چي دې کورنۍ پښتو ته کړي دي، بل چا نه دي کړي.

د خوشحال خان ادبي شهرت :-

خوشحال خان د پښتو شعر پلار او لومړی استاد ګڼل کيږي، خوشحال خان يوازي پښتانه نه پېژني، بلکي د اروپا محققين او پلټونکي پوهان يې ښه پېژني، په ټولو کتبخانو او علمي ځايو کي د ده دېوانونه سته، او څو تنو د ده ويناوي پخپلو ژبو ترجمه کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامي انسكلوپيډيا د ده په باب كي داسي ليكي :

"خوشحال خان توريالی او شاعر او مشهور خان و، د ده اشعار له وطنخواهۍ څخه ډك دي ... ص ٩٧٦ ج ٢".

دارمستېر فرانسوی مستشرق وايي : "خوشحال خان د توريالي توب او شعر روح ګډ درلود".

ابرهام ګريرسن انګليس وايي :

"خوشحال خان د خټكو توريالی مشر و، د ده شعر نسبت و نورو شاعرانو ته ډېرخوږ دی".

راورټي وايي :

"خوشحال خان د پښتو ډېر مشهور اديب دی، د ده اشعار په اروپا كې ډېر خوښ سوي دي، او قدر يې كوي".

سی ای بيدولف د ١٧ قرن په اشعارو كي ليكي :

"خوشحال خان ډېر استعدا او فوق العاده پوهه درلوده، هيڅ مضمون نه دی پاته چي ده په شعر كي نه دي ويلي، د ده اشعار د وطن خواهۍ خوا لري، د حرب، عشق، مذهب، اخلاق او فلسفې څخه ويناوي كوي".

دا وه د اروپا د پوهانو افكار نسبت و خان ته، په پښتو كي د ده شهرت او ادبي منزلت پخپله پښتنو ته ښه اوڅار دي، تر دې حده چي د ده ويناوي د عوامو په خولو كي اوس د متلو پر ځای ويل كيږي، مثلاً :

مه خوشحال وای مه خټك وای مه خاني وای

چې په لاس كي مســلی وای خو ځوانی وای

وفات او وروستنۍ وينا:-

خوشحال خان د عمر په آخر كي چي ډېر سپين ږيری سو، اپرېدو ته ولاړ، او عزلت يې وكړ، چي عمر يې (٧٨) كالو ته ورسېدی په ٢٨ د ربيع الاول (١١٠٠) هجري كال سم له (١٦٩١ ع) كال سره په ډېره ناكامي وفات سو، او پخپل مسكن كي چي سرای نوميږي د لوړو غرو په لمن كي ښخ سو (٤٧)، د خوشحال خان وروستنۍ وينا او آخرنی وصيت دغه و :

"ما هلته ښخ كړئ، چي د مغولو سيوری مي پر خاوره ونه سي، او د مغولو د سپرو د پښو ګرز مي پر هديره ونه لوېږي".

د هند فيلسوف علامه اقبال د پښتنو د دې نامتو مشر او اديب او فيلسوف دا وصيت په دې ډول نظم كړی دی :

كهول تجهـ سی ای همنشين دل كی بات
ده مدفن هی خوشحال خان كـــو پسند
اړا كر نه لائی جهان باد كـــــــــوه
مغل شهسوارون كی ګرد ســــــــمند

خاتمه :-

خوشحال خان دا ډيري پيړۍ كيږي چي تر خاورو لاندي دی، مګر د ده نوم ژوندی دی، او هيڅكله نه مري، ده پښتنو ته د مليت لار ښوولې ده، ده د پښتنو مړه ژبه ژوندۍ كړې ده، د ده پښتنوالي په نوم قرباني كړې ده، دی د پښتنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی توريالي او عالم او فيلسوف او اديب او ملي سردار دی، که پښتنواله نه وي مړه، که پښتون ژوندی وي، که دا خاوره د پښتانه په نوم يادېږي، د خوشحال خان په نامه به د افتخار څلي درېږي، او د پښتنو ځلمی نسل بې په نوم افتخار کوي، او په خوشحال خان به وياړي.

ما دا کرښې د دې ښاغلي په نامه وليکلې، ګوندي ځلمي پښتانه يې ولولي، او د ده روح ښاد سي.

رحماً الله عليه رحماً واسعاً

همېشه به پرې نارې وي د بلبـــــــــلو
دا چي ساز کړ نن خوشحال په ويل باغ

پارسي اشعار :-

خوشحال خان په پارسي کي هم روانه طبعه لري، او خواږه اشعار په دغه ژبه کي وايي، مگر د مليت په مينه دی پښتو شعرونه غوره کوي، لکه چي په خپله وايي :-

پارسي شعر مي هم زده سليقه لـــــــــــرم د واړو
د پښتو شعر مي خوښ سه هر څوك خپل ګڼي ښاغلي

خوشحال خان په پارسي شعر کي کوهی يا روهی تخلص کوي، د ده ډېري پارسي بدلي سته، موږ له پاره د نمونې د ده څو بدلي دلته رانقل کوو:-

پير ما از می پرستی تـــــــوبه فرمايد مرا
الله الله وقت گل اين توبه مـــــــيشايد مرا
هر که از نــــــــــظارهْ روی بتان منعم کند
پند او گــــــــــيرم بدل در دل نمی آيد مرا
شوق زلف يار دارم برجنون خـــــويشتن
خودگواهی ميدهم زنجير می بايد مــــرا
غم چو آتش دل سمندر وار ميرقصد درو
راستی جز غم کنون خاطر نياســـايد مرا
ازجفای خار بلبل برنميـــــــــــگردد زگل
چون جفايش بيش بينم مهر افزايد مـــرا

نام لبت گرفتن شيرين کـــــــــــــند دهانرا
خوشوقت آنکه بوسد پيوســـــــــته آن لبانرا
درد درون دلرا گر درکـــــــشم بــــــــپوشم

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکن چه چاره سازم این چشـــم خون فشانرا
هر گفتگو که باشد جز ذکــــــــر روی آن بت
نامردم ار نه بندم زان گفتـــــــــــگو زبانرا
مجنون ذکر لیلی فرهـــــــــاد و ذکر شیرین
در پیش شان چه خوانی صدگونه داستان را
نوبهار و می و معشوقه و جامست اینجـــا
زهد و پرهیز و ورع را چه مقامست اینجـــا
قصه کوتاه که در مذهب ما ای صوفـــــــی
غیر می هر چه بود جمله حرامست اینجـــا
یا رب آن مغبچه؟ را هیچ گزندی مرســـان
که برویش نگران خاص و عوامست اینجا
پیشم از مشك خطادم مزن ای باده فروش
که پر از نگهت آن زلف مشامست اینجـــا
شاه من تند مران رخش که بس مردم شهر
بهر نظارهْ تو بر در وبامست اینجـــــــــــا

ازو دل برگرفتن کارمـــــــــن نیست
که از جان سیر گشـتن کار تن نیست
چمن را گر چه گلها بس شـــــگرفست
ولی همچو رخت گل در چـــمن نیست
مرا گوئی وصـــــــف دهـــــــانم
چه گویم چون درو جای سخـن نیست
من وسودای رویت تا که هســـــــتم
اگر چه خود ترا پروای من نـــــیست
چرا خوشحال را پرسی که چـــــونی
مگر از چهرهْ او مـــــــــــبرهن نیست

حدیث روی او بامن بگوئید
به بلبل از گل و گلشن بگـــــــگوئید
نه آن چشم و نه آن مژگان نه ابروست

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلای دین و جان و تن بـــــــگوئید
ز ســــــــــیل اشك من پروا ندارد
دلست این سنگ و یا آهن بــــگوئید
شب وصـــــل است مو آنجا نـمانده
تو کی گنجی به پیراهن بـــــــگوئید
ز لعل شـــــــــکرین او نـــــــباتی
بکـــــوهی میرسد من من بـــگوئید

نیست دمی که نرگست فتنه بپا نمیـــکند
نیست شبی که دیده ام بیتو ژرا نمیـــکند
آنچه رو لعل تو کند آبحیات کی کـــــــند
آنچه روز لف میکند مشـــــك خطا نمیکند
نگهت زلف مشك بو میـــــــطلبم به آرزو
چون کنم این ترحمی باد صبا نمیــــکند
وقت بهار میرود بلبل خوشنوا بخــــــوان
دور نشاط گل چو عمر هیچ وفا نمیـــکند
روهی و جور مهوشان درد و بلای عاشقی
لذت درد یافته یاد دوا نمیـــــــــــــکند

لطف بی حد و بی عدد کـــــردی
اینکه قتلم به تیغ خود کــــــردی
تیغ تو آب زندگـــــــــانی داشت
کشتی و زنده ابد کـــــــــــردی
دل زمن خواستی و جـــان رادم
جان من باز گـــــــو که بد کردی
چه شرابیست اینــــــکه روهی را
بیکی جرعه بی خرد کـــــردی [۴۸]

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمن لیکونه

۱. مټاریخ مرصع، حیات افغاني، خورشید جهان، فخر افغاني، مرآت الافاغنه.
۲. حیات افغاني.
۳.

سن د هجر زر و پنځوس و
چي شهید سو شهباز خان

٤. تاریخ مرصع او اسلامي دایرآ المعارف.
٥. د اولس قرن اشعار د سی آی بیډولف انګلیس.
٦. حیات افغاني.
۷. هجري لوی ادیب دی، دی وایي :-

بیجاپور هجري په خوب لـــــیدلی نه و
آخر پېښ سي هغه کار چي يې قضا کا

۸. تاریخ مرصع.
۹. شعر العجم ج ٥.
۱۰. مغنی اللبیب.
۱۱. د دوکتور راپوپورټ مبادي فلسفه.
۱۲. تاریخ فلسفه د حنا اسعد.
۱۳. مبادي فلسفه.
۱٤. فلسفآ الاخلاق.
۱٥. د ټي جي ډوبوتر د اسلام د فلسفې تاریخ ص ۱٥۱.
۱٦. علم تربیه د نوبخت.
۱۷. علم تربیه.
۱۸. حیات العلوم.
۱۹. کیمیای سعادت.
۲۰. فلسفآ الاخلاق ص ۷.
۲۱. د کابل مجله، ص ۷۰٤ ج ٦.
۲۲. علم تربیه ص ۱۳.
۲۳. دا عربي بیت هم دغه عقیده ښیي : -
و ما هذه الاخلاق الاتـــــــــبائع
فمنهن محمود و منهن مذموم

(c) ketabton.com: The Digital Library




٢٤. احياء العلوم الدين.

٢٥. بل الانسان على نفسه بصيره و لو القى معاذيره )الآيه(.

٢٦. زبدآ الصحايف.

٢٧. اخوان الصفا ج ١ ص ٢٣.

٢٨. د علامه اقبال فلسفهٔ عجم ص ١٠٩.

٢٩. كتاب الهند ص ١٦ ليډن.

٣٠. د خيام كليات الوجود.

٣١. وګورئ المنقذ من الضلال د حضرت امام غزالي ص ٣٠.

٣٢. فلسفهٔ عجم.

٣٣. وګورئ حجآ الله البالغه د حضرت شاه ولي الله دهلوي.

٣٤. وګورئ كشف الضنون بيان دتصوف.

٣٥. شعر العجم ج ٥.

٣٦. وګورئ مخزن الاسلام د اخوند درويزه ننګرهاري.

٣٧. د پښتو شعر تاريخچه ص ٢٣ – ٢٤.

٣٨. ايچ، جي راورټي مقدمه د پښتو ګرامر.

٣٩. د پښتو شعر تاريخچه.

٤٠. راورټي.

٤١. وګورئ تاريخ مرصع طبع د پادري هيوز په كليد افغاني كي.

٤٢. وګورئ د پادري هيوز د كليد افغاني مقدمه.

٤٣. د كابل مجله ليك د ښاغلي زمريالي ج ٦ ص ٢٤٤.

٤٤. ګلش روه د راورټي.

٤٥. د هيوز چمن بې نظير.

٤٦. د هيوز كليد افغاني.

٤٧. د هيوز كليد افغاني او د سرحد مجله.

٤٨. د خوشحال مرغلري د ٩ مخ څخه تر ٨٤ يم پوري، ١٣١٧ د كندهار چاپ.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**